سوال: په غریزه مناطقو کی څو ډوله ګولاني جوړیږي فقط نومونه ئي واخلي؟

1- محدبه ګولاي
2- مقعره ګولاي
3- کارنر ګولاي

سوال: فرق بین قیر و تارکول چیست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیر جهت اسفالټ سرک ها مورد استفاده قرار می گیرد و تارکول جهت قیر ریزي میدان ها هوائي استفاده می گردد.

Proctor چیست ؟

Proctor د سرکونو د ټسټونو د جملي څخه یو ټسټ دی د کوم په اساس چی رطوبت تعینیږي (FDT.CBR..).

سوال: ښاري شبکي کومي دی نومونه ئي واخلي؟

1- ښاري سرکونو شبکه
2- د ابراساني او کاناليزاسيون شبکه
3- د برق د انرژي شبکه
4- د مخابراتو تیلیفون او انټرنیټ شبکه
5- د جامدو کثافاتو د تنظیماتو شبکه
6- تفریحي مناطقو او پارکونو(چمنون)شبکه

سوال: د اولي خښتي مقاومت په محاسباتو کی څومره په نظر کی نیول کیږي؟

230 kg/cm$^2$ په نظر کی نیول کیږي

سوال: معیار هاي اساسي براي ډیزاین کدام ها اند؟

معیار هاي اساسی براي ډیزاین سرک عبارتند از......

1- کیفیت خاک
2- فشار یا لوډ عراده جات
3- موضوعات اقلیمي
4- هایدرولوجی وغیره

سوال: ساختمان د کومو قوو په مقابل کی ډیزاین کیږي؟

یو ساختمان د افقي او عمودي قوو د پاره ډیزاین کیږي.

سوال: درز ها که از لخاظ وظیفوي در یک ساختمان اهن کانکریتي به میان ایند چند نوع می باشد؟

چهار نوع:

1- درز حرارتي
2- درز زلزله
3- دزر نشست
4- درز انقباض او انبساط

---

**د زلزلي درز (Seismic joint)**

په لاندي حالاتو کی ودانیو ته د زلزلي درز (seismic joints) ورکول کیږي کله چی د وداني اوږدوالي له (30—40) m زیاتیږي نو په هرو (15—20)m پوري باید یو درز ورکړل شی کله چی د وداني د پوړونو (منزلونو) شمیر فرق ولري. لکه د وداني یوه برخه 10 منزله او بله برخه ئي 15 منزله وی. کله چی د وداني مواد فرق ولري. لکه د وداني یوه برخه له کانکریټو جوړه وی او بله برخه له اوسپنیزه (steel) څخه وی کله چی د وداني بڼه تغیر ولري.لکه د وداني یوه برخه مربع وی او بله ئی دایروی وی.کله چی په تهداب کی د ځمکی مواد سره فرق ولري لکه د تهداب لاندی ځمکي یوه برخه خاوره او بله برخه ئي ریګ وی په پورته حالاتو کی دا درزونه عمودي(ولاړ) په نظر کی نیول کیږي که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرته د ځمکي خاوره فرق ولري یعني غیر منظم نشست کوی او یا هم د حرارت د پاره درز ورکوي نو دا درز باید د تهداب تر اخره پوري ورکړل شی او دا درز له سره بر پایه پوري باید یو ډول سور (عرض) ولري.

---

**د زلزلي د درز عرض په لاندي ډول محاسبه کیږي؟**

که د پوړ ارتفاع 5m پوري وی نو درز 3cm نیول کیږي او بیا د هر 5m ارتفاع په لوړوالي سره 2cm زیاتیږي په عمومی ډول سره په 6m ارتفاع کی 2.54cm درز پرینبودل کیږي او بیا د هر 3m په لوړیدو سره 1.27cm په اندازه د درز عرض زیاتیږي په پورته حالتونو کی چی کوم درز ورکول کیږي دی درز به expansion joint هم ویل کیږي.
نوټ: د زلزلي درز باید په هیڅ صورت سره له 3cm څخه کم ونه نیول شي.

---

په عمومی صورت سره یوه وداني کی څلور ډوله درزونه (joints) ورکول کیږي.

Expansion joint -1

دا درز یا joint ددي د پاره وداني ته ورکول کیږي تر څو په اسانه توګه سره وداني حرکت وکړي د زلزلي په درز کی ذکر شوي.

Control joint -2

دا درز د انقباض د مخنوي د پاره په لویو هموارو اوږدو کانکریټي سطحو کی ورکول کیږي ترڅو په سطحه کی منظم درزونه رامنځته شی ددي درز نسبت د کانکریټو ډبلوالي ته تعین کیږي په پیاده رو او یا دی ته ورته ځایونو کی cm (150—180)کانکریټو اوږدوالي پوري یو درز ورکول کیږي. سرک، د کور حویلي او یا هغه سلب چی پر ځمکه پروت وی 450cm—600) اوږدوالي پوري یو درز ورکول کیږي خو په سیخ لرونکی کانکریټو(RCC) کی بیا دغه درزونه په زیاته فاصله کی په نظر کی نیول کیږي.

Isolation joint -3

دا درز سبلونه د نورو ساختماني برخو څخه جلا کوی لکه دیوال، پایه، سپل او نور .. دا درزونه سلب ته د حرکت اجازه ورکوي ترڅو د حرکت په وخت کی په سلب کی درزونه(cracks) رامنځته نه شي.

Construction joint -4

دا هغه ساختماني درزونه دي چی د ودانیو د جوړیدو په وخت کی په نظر کی نیول کیږي دا درزونه هغه وخت په نظر کی نیول کیږي چی په ساحه کی د وداني د کوم عنصر یا غړی کانکریټ د کار په جریان کی خلاص شی او یا هم د کومي ستونزي له کبله کانکریټو اچول ودریږي نو دا درز ورکول کیږي.

---

**درز در کانکریت چند نوع است و علت آن چیست ؟**

ترک یا درز در کانکریت یکی از مشکلات جدی وجهانی در ساختمان های کانکریتی است،که به شکل درز یا شکستگی (fracturing or Breaking) ایجاد میشود، و Structure را به دو یا زیادتر از دو بخش تقسیم می کنند،که باعث تخریب و کاهش طول عمر ساختمان و همچنان ازبین رفتن زیبای ساختمان میشود، تشکیل ترک ها (Crack) در کانکریت به عوامل مختلفی از قبیل خرابی کانکریت( Detrition of concrete ) زنگ زدگی سیخ گول (corrosion bars Reinforcement) که دیزاین نامناسب،مواد ساختمانی ضعیف وهمچنان تغییرات درجه حرارت وشرایط محیطی بالای آن تاثیر دارد.اهمیت ترک ها با توجه به کاربرد ساختمان متفاوت است ترک در بخشی از ساختمان های رهایشی محدیت های کمتری دارند
نسبت به ساختمان های آبی (Structures Water) وتشکیل ترک یک خطر جدی برای ساختمان های کانکریتی محسوب میشود از این جهت جلوگیری وترمیم آنها در ساختمان های کانکریتی بخاطر جلوگیری از خسارات مالی و جانی ضروری است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انواع Crack_در_کانکریت
Crackها بصورت عموم به دو بخش عمده تقسیم شده است.
1:(Structural Cracks)این نوع Cracks در اثر دیزاین نامناسب،مواد ساخت وسازضعیف واضافه بار (Overloading) بالای ساختمان بوجود میاید، که در Column, Slab, Beamبه اشکال مختلف ایجاد میشوند.

2:(Non-Structural Cracks) این نوع Crack ها دراثر قوه های داخلی (internal force) که عامل آن تغییرات درجه حرارت،رطوبت، Crazing، تاثیرات گازات ومایعات می باشد بوجود میاید.
وهمچنان Crack ها به اساس جهت (Direction)، عرض (Width) و عمق (Depth) به چندین طبقه تقسیم شده است،که بعد از سخت شدن ویا پیش از سخت شدن کانکریت اتفاق می افتند.

دلایل بوجود_آمدن_کرک_در_کانکریت

1- Elastic deformation
2- Thermal movement
3- Chemical reaction
4- Shrinkage
5- Earthquake
6- Vegetation
7- Foundation movement
8- Poor material quantity




9-

سوال: گابیون چیست و در کدام بخش استفاده می شود؟

دریا ها در موسم سیلابي سواحل خود در تخریب نمودن و میسر خود را تغیر مي دهد اکثرآ این مسله باعث تخریب کانال در قسمت های نزدیک به سر بند می گردد که در این حالت ضرورت به تحکیم کاري به وسیله گابیون احساس مس شود که معمولا گابیون عبارت از یک جال است که در داخل ان سنگ ها انداخته می شود از گابیون ها براي فرسایش و تحکیمات ساختمان ها استفاده می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**Building estimation method**

1- Separate wall method جدا گانه دیوال میتود
2- Center line method د مرکزي خط میتود
3- Crossing method د قطع میتود

---

سوال: څنګه کولای شو چې skill labor او unskilled labor پیدا کړي؟
که چیری $60m^3$ سنکاري وی نو څومره skill او unskilled لیبر پکی په کار وړل کیږي؟
د unskilled labor د پاره نورم (0.63)

| سنکاري | Unskilled norm |
|---|---|
| $60m^3$ | X |
| $1m^3$ | 0.63 |

$$unskilled\ labor = \frac{60m^3 * 0.63}{1m^3} => 37.8 \approx \mathbf{38}\ \text{نفره}$$

د skill labor دپاره نورم (3.25)

| سنکاري | نورم |
|---|---|
| $60m^3$ | X |
| $1m^3$ | 3.25 |

$$skill\ labor = \frac{60 * 3.25}{1} => \mathbf{125}\ \text{نفره}$$

---

**Required skill labor**

$$R.S.L = \frac{unskill\ labor * skill\ labor}{assume\ day} => \frac{37.8 * 195}{67} => \mathbf{110}\ \text{نفره}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



How can find days?

$$days = \frac{total\ unskilled\ labor}{assume\ day} => \frac{37.8}{67} => 0.56 => \mathbf{1}\ day$$

مثال: د کندن کاري د پاره څومره کارګرو ته ضرورت دی ؟

حل: د طاقت کار د جدول څخه موږ د یو غیر فني کارګر د کار اندازه اخلو.

| کندن کاری | کسان |
|---|---|
| $116m^3$ | X |
| $1m^3$ | 0.3 |

$$man = \frac{116m^3 * 0.3}{1m^3} => 34.8 \approx \mathbf{35}$$ کسان

همدا مثال د فني کارګرو د پاره هم تر سره کوو.

| کندن کاري | کسان |
|---|---|
| $116m^3$ | X |
| $1m^3$ | 0 |

$$X = \frac{116m^3 * 0}{1m^3} => 0$$

یعني کندن کاري په ماهرو کارګرو باندي نه تر سره کیږي کارګر

مثال: که 35 کارګر پورته ترسره شوی کار په یوه ورځ کی کوی نو 10 کسان به ئي په څو ورځو کی ترسره کړو؟

| کسان | ورځی |
|---|---|
| 35 | 1 |
| 10 | X |

Inverse =>

| کسان | ورځی |
|---|---|
| 35 | X |
| 10 | 1 |

$$day = \frac{35 * 1day}{10} => 3.5 \approx 4$$ ورځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بندونو صنف بندي**

| د صنف بندي ډول | د بندونو ډولونه | مثالونه |
|---|---|---|
| A: د کټي اخيستني يا وظيفي له مخي According to use | 1- ذخيروي بندونه ( storage dams) | وزني بندونه، خاورين بندونه، ډبرين بندونه |
| | 2- ميسر بدلونکي(نحرافي) بندونه (diversion dams) | پرچاوي او بيرجونه |
| | 3- توقيفي بندونه ( detention dams) | د سيلاب د مخنيوي بندونه |
| | 4- صندوق ډوله بندونه( coffer dams) | د کار د ساحي د وچ ساتلو بندونه |
| B: هايدروليکي ډيزاين له مخي According to hydraulic design | 1- اوبه تيرونکي (سرريزه) بندونه (overflow dams) | پرچاوه ئي بندونه، کانکريتي بندونه |
| | 2- اوبه نه تيرونکي بندونه (non-overflow dams) | خاورين بندونه، ډبرين بندونه |
| C: د موادو له مخي بندونه According to material used | 1- سخت بندونه | وزني بندونه، کانکريتي بندونه، پشته لرونکي بندونه(buttress dam) کمان ډوله بندونه، فولادي او لرګين بندونه |
| | 2- نرم بندونه | خاورين بندونه،ډبرين او مرکب بندونه |

**په وزني بندونو باندي واردېدونکي قوي**

**اول : تخريبوونکي قواوي**

1- Water pressure د اوبو فشار
2- Uplift pressure د اساس څخه د اوبو فشار
3- Pressure duto earthquake د زلزلي له اثره فشار
4- Ice pressure د کنګل فشار
5- Wave pressure د باد يا څپو فشار
6- Silt pressure د رسوبي موادو فشار

**دوهم: ساتونکي قواوي**

1- Weight of dam
2- Weight of water
3- Water pressure above inclined portion د مايلي برخي د پاسه د اوبو فشار

---

سوال: د اوبو پواسطه په بند باندي څو ډوله قوي واردیږي؟ دري ډوله قوي چی عبارت دی له

1- د اوبو افقي فشار د بند په پورته برخه باندي چی تخريبوونکي قوه ده.
2- د اوبو افقي فشار د بند په لانديني برخه باندي چی دا هم تخريبوونکي قوه ده.
3- د بند په مايله برخه باندي د اوبو وزن چی دا ساتونکي قوه ده.

---

د زلزلي د قوي له اثره په بند کی رامنيځته شوي افقي تعجيل په دوه ډوله دی.

1- د بند په بدنه کی افقي انرشيائي قوه.
2- د اوبو هايدرو ډيناميکي قوه ........د وان کارمن د فرمول پواسطه............... $P_e = 0.555\alpha_h w.h^2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



3- د بند په بدنه کی عمودي انرشائي قوه.

جاذبوي یا وزني بندونه څلور ډوله د تخریب حالتونه لري.

1- چپه کیدنه یا په teo باندی څرخیدل.
2- ښوییدنه
3- فشار یا رژیدنه
4- د کشش منځ ته راتګ

د ډیزاین څخه هدف دبند د پاره د مناسبو ابعادو ټاکل دی او هم په ټولو ممکنه حالاتو کی د قوو په مقابل کی د بند استواروالي

خاورین بندونه دري ډولونه لري چی عبارت دي له :

1- متجانس خاورین بندونه
2- هسته لرونکي خاورین بندونه
3- دیافراګم لرونکي خاورین بندونه


خاورین بندونه د دوه قوو په مقابل کی تخریبږي؟

1- د میلانونو استواري له امله
2- د اوبو د قوو په مقابل کی استواري

**پرچاوي د ساختمان له مخي په لاندي ډولونه لري.**

1- Straight drop spillway
2- Ogee spillway مخني ډوله پرچاوه
3- Chat/open channel spillway
4- Side channel spillway
5- Shaft spillway
6- Syphon spillway

مثال: د تیږو دیوال چی 7m ارتفاع او 2.5m عرض لري د 6m ارتفاع په اندازه اوبه ئي یو اړخ کی ذخیره شوي که چیرته ډیم د سنکاري وزن $23\ kn/_{m^3}$ وي تاسي په ډیم باندی محصله فشار د تقاطع نقطه د اساس سره پیدا کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



$P = {}^{1}/_{2}\, W.H^2 => {}^{1}/_{2} * 9.81\, {}^{KN}/_{m^3} * (6m)^2 => \mathbf{176.6\, {}^{kN}/_{m}}$

مقطعي وزن $W = A * \gamma => 2.5m * 7m * 23\, {}^{kN}/_{m^3} => \mathbf{402.5\, {}^{kN}/_{m}}$

په في متر کی محصله پیدا کوو $R = \sqrt{P^2 + W^2} => \sqrt{(176.6\ {}^{kN}/_{m})^2 + (402.5\ {}^{kN}/_{m})^2}$
$=> \mathbf{439.5\ {}^{kN}/_{m}}$

د ثقل مرکز $AM = \frac{b}{2} => \frac{2.5}{2} => \mathbf{1.25m}$

$x = \frac{PH}{3W} => \frac{176.6\, {}^{kN}/_{m} * 6}{3 * 402.5\ {}^{kN}/_{m}} => \mathbf{0.87m}$

اساس په کومه نقطه کی قطع کوي $AR = AM + X => 1.25m + 0.87m => \mathbf{2.12m}$

Step one: Check for stability

$\mu.W > P => 0.65 * 402.5 > 176.6 => \mathbf{261.6} > \mathbf{176.6}$ *dam is stable against sliding*

Step two: check for overturning

که چیرته ددي بند دیوال محصله (Base) قطع کړي نو دیوال استوار وی او که (Base) ئي قطع نه کړه نو دیوال استوار نه دی ....

$AR < b$ ……………دا حالت ستیبل دی

$AR > b$ ……………دا حالت ستیبل نه دی

$\mathbf{2.12} < \mathbf{2.5}$ dam is stable against overturning

Step three: check for tension

$AR < {}^{2b}/_{3}$ …………… *this is stable type*

$AR > {}^{2b}/_{3}$ …………… *this is unstable type*

$2.12 > {}^{2 * 2.5}/_{3} => \mathbf{2.12} > \mathbf{1.5}$ *dam is unstable aganist tension*

---


مثال: دتیرو دیوال چی 5m ارتفاع او 1.8m عرض لري د 4m ارتفاع په اندازه اوبه ئي یو اړخ کی ذخیره شوي که چیرته د اصطکاک ضریب د دیوال او خاوري تر منځ 0.6 او ډیم د سنکاري وزن $22\ kN/m^3$ وی تاسو د ډیم استواري معلوم کړي؟ پورته مثال ته ورته مثال دی.

---

مثال: یو ذوذنقائي د تیرو ډیم چی پاسني عرض ئي 2m او لاندیني عرض ئي 5m دی او همدارنګه د نوموړي بند ارتفاع 10m ده چی خولي پوري اوبو څخه ډک دی ډیم وزن $23\, {}^{kN}/_{m^3}$ دی تاسي محصله همدارنګه د محصلي او د اساس د تقاطع نقطي افقي فاصله د ډیم د ثقل مرکز څخه په لاس راوړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library






$$P = {}^{1}/_{2} * W * H^2 => {}^{1}/_{2} * 9.81 * 10^2 => \mathbf{490.5}\ {}^{\boldsymbol{kN}}/_{\boldsymbol{m}}$$

$$W = A * \gamma => \frac{(2+5)*10}{2} * 23 => \mathbf{805}\ {}^{\boldsymbol{kN}}/_{\boldsymbol{m}}$$

$$R = \sqrt{P^2 + W^2} => \sqrt{490.5^2 + 805^2} => 942.7 \approx \mathbf{943}\ {}^{\boldsymbol{kN}}/_{\boldsymbol{m}}$$

**كله چې مقطع ذوذنقائي وي نو بيا ئي د ثقل مركز په لاندي طريقه پيدا كيږي ...**

$$AM = \frac{a^2 + ab + b^2}{3(a+b)} => \frac{2^2 + 2*5 + 5^2}{3(2+5)} => \mathbf{1.857}\boldsymbol{m}$$

$$X = \frac{PH}{3W} => \frac{490.5 * 10}{3 * 805} = \mathbf{2.03}\boldsymbol{m}$$

$$AR = AM + X => 1.85 + 203 => \mathbf{3.88}\boldsymbol{m}$$

**Now checking for stability**

Step one: check for sliding

$$\mu.W > P => 0.65 * 805 > 490 => \mathbf{523.25 > 490} \dots\dots\dots\dots\dots.\boldsymbol{stable}$$

Step two: check for overturning

$$AR < b => \mathbf{3.88 < 5} \dots\dots\dots\dots\dots..\boldsymbol{stable}$$


Step three: check for tension

$$AR < \frac{2.b}{3} => 3.88 < \frac{2*5}{3} => \mathbf{3.88 > 3.3} \dots\dots\dots\dots\dots\boldsymbol{unstable}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال: یو ذوذنقي د تیرو ډیم چه پاسني عرض ئي 3m او لاندیني عرض ئي 8m دی همدارنګه نوموړي بند 12m ارتفاع لري چه د 11m په ارتفاع ورته اوبه ولاړي دی د ډیم وزن $23\,{}^{kN}/_{m^3}$ او د اصطکاک ضریب ئي 0.65 دی **د ساحي مجازتشنجات $400\,{}^{kN}/_{m^3}$** تاسی محصله همدارنګه د محصلي او د اساس د تقاطع نقطي افقي فاصلي د ډیم د ثقل مرکز څخه په لاس راوړي؟




$$P = {}^{1}/_{2} * W * H^2 => {}^{1}/_{2} * 10 * 11^2 => \mathbf{605\,{}^{kN}/_{m}}$$

نوټ: هغه برخه کی چی اوبه قرار لري د مثلث په شکل د پاسني قاعدي عرض ئي پیدا کوو څکه چی ډیم میل لري نو د اوبو فشار پورته برخه کی زیات دی.

$$\frac{y}{2} = \frac{11}{12} => y * 12 = 11 * 12 => y = \frac{11 * 2}{12} => \mathbf{1.8m}$$

$$W_1 = A_1 * W => {}^{1}/_{2} * 1.8 * 11 * 10 => \mathbf{99\,{}^{kN}/_{m^3}}$$

$$W_2 = A_2 * \gamma => {}^{1}/_{2} * 2 * 12 * 23 => \mathbf{276\,{}^{kN}/_{m^3}}$$

$$W_3 = A_3 * \gamma => 3 * 12 * 23 => \mathbf{828\,{}^{kN}/_{m^3}}$$

$$W_4 = A_4 * \gamma => {}^{1}/_{2} * 3 * 12 * 23 => \mathbf{414\,{}^{kN}/_{m^3}}$$

$$W = W_1 + W_2 + W_3 + W_4 => 99 + 276 + 828 + 414 => \mathbf{1617\,{}^{kN}/_{m^3}}$$

د نوموړي شکل لرونکي ډیم د پاره د ثقل مرکز د پیدا کولو طریقه په لاندي ډول ده .

$$AM = \frac{W_1 * X_1 + W_2 * X_2 + W_3 * X_3 + W_4 * X_4}{W_1 + W_2 + W_3 + W_4}$$

د $X$ په محور باندي د نوموړی خط اوسطي فاصلي پیدا کوو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$X_1 = {}^{1.8}/_3 => 0.6$$

$$X_2 = {}^{2*2}/_3 => 1.3$$

$$X_3 = 2 + {}^{3}/_2 => 3.5$$

$$X_4 = 5 + {}^{3}/_3 => 6$$

$$AM = \frac{99*0.6 + 276*1.3 + 828*3.5 + 414*6}{1617} => \mathbf{3.59m}$$

$$X = \frac{PH}{3W} => \frac{605*11}{3*1617} => \mathbf{1.37m}$$

$$AR = AM + X => 3.59 + 1.37 => \mathbf{4.96m}$$

***Check for stability***

Step one: sliding

$$\mu * W > P => 0.65 * 1617 > 605 => \mathbf{1051 > 605} \ldots\ldots\ldots\ldots..\boldsymbol{Stable}$$

Step two: overturning


$$AR < b => \mathbf{4.96 < 8} \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots..\boldsymbol{Stable}$$

Step three: tension

$$AR > {}^{2*b}/_3 => 4.96 > {}^{2*8}/_3 => \mathbf{4.96 < 5.3} \ldots\ldots\ldots\ldots.\boldsymbol{Unstable}$$

---

غواړو چی *1:50* په مقياس د يو ديم ديوال رسم کړو او پايداري معلومه کړو؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



1st: غواړو چی مجموعي فشار ئي پیدا کړو.

$$P = {}^1\!/_2 * W * H^2 => {}^1\!/_2 * \left(9.81\, {}^{kN}\!/_{m^3}\right) * (3m)^2 => \mathbf{44.2\, {}^{kN}\!/_{m}}$$

2nd: اوس غواړو چی د دیوال مجموعي وزن په لاس راوړو.

$$W = A * \gamma => (3.75m) * (2.5m) * \left(23\, {}^{kN}\!/_{m^3}\right) => \mathbf{216.2\, {}^{kN}\!/_{m}}$$

3rd: په في متر طول کی محصله پیدا کوو.

$$R = \sqrt{P^2 + W^2} => \sqrt{(44.2)^2 + (216.2)^2} => \mathbf{220.8\, {}^{kN}\!/_{m}}$$

4th: په قاعده کی د ثقل مرکز په لاس راوړو او یا د A او M نقطو تر منځ فاصله په لاس راوړو.

$$AM = \frac{b}{2} => \frac{2.5}{2} => \mathbf{1.25m}$$

5th: د R او M نقطو تر منځ فاصله په X سره نیسو.

$$X = \frac{PH}{3W} => \frac{44.2\, {}^{kN}\!/_{m} * 3m}{3 * 216.2\, {}^{kN}\!/_{m}} => \mathbf{0.20m}$$

6th: د A نه تر R پوري فاصله یعني base په کوم نقطه کی قطع کوي.

$$AR = AM + X => 1.25m + 0.20m => \mathbf{1.45m}$$

7th: د استواري په اړه پلټنه کوو.

Sliding که چیرته $\mu.W > P$ وي نو دیوال پایداره دی که نوموړی حالت صدق ونه کړي نو unstable دی

$$\mu.W > P => 065 * 216.2 > 44.2 => \mathbf{140.53 > 44.2} \ldots\ldots.\, dam\ is\ stable\ against\ sliding$$

Overturning که چیرته $AR < b$ وی نو دیوال پایدار دی او که $\mu.W > b$ وی نو دیوال ناپایداره دی

$$AR < b => \mathbf{1.45 < 2.5} \ldots\ldots\ldots\ldots.\, dam\ is\ stable\ against\ overturning$$

Tension: دکششي قوي په مقابل کی دیوال گورو. که چیرته $AR < \frac{2b}{3}$ وی نو دیوال پایداره دی او نوموړي رابطه صدق ونه کړي دیوال ناپایداره دی

$$AR > \frac{2b}{3} => 1.45 > \frac{2 * 2.5}{3} => \mathbf{1.45 < 1.67} \ldots\ldots.\, dam\ is\ stable\ against\ tension$$

---

## HYDRALIC PART

د بازین فارمول:

$$C = \frac{157.6}{1.81 + \frac{k}{\sqrt{m}}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



K: د بازین د ثابت په نامه یادیږي چې د هغې قیمت د مجرا د زیږوالي پوري تړلي دی. د صاف سیقل شوي سیمنټي پلستر، همدار لرګي(0.11) او د خاوري بنه سطحي د پاره د $k$ قیمت (1.54)

| | |
|---|---|
| Kutter. کوټر فارمول | $C = \frac{23+\frac{0.00155}{i}+\frac{1}{N}}{1+\left(23+\frac{0.00155}{i}\right)*\frac{N}{\sqrt{m}}}$ |
| د شیزی رابطه: | $V = C * \sqrt{m.i}$ |
| دماننګ فرمول: | $V = \frac{1}{N} * m^{2/3} * i^{1/2}$ |
| د ماننګ په فامورل کی د جریان مقدار: | $Q = A * \frac{1}{N} * m^{2/3} * i^{1/2}$ |

مثال: یو مستطیل مجرا چې 1.2m عرض او 1m ئي ارتفاع ده په نظر کی نیسو د کانال طولاني میلان 1/1000 دی د بازین د فارمول څخه په استفاده سره د اوبو مقدار پیدا کوو پداسی حال کی چې د k قیمت 1.54 فرض شوي دی .

$b = 1.2m \quad , \quad d = 1m \quad , \quad k = 1.54 \quad , \quad i = {}^{1}/_{3000}$

مقطی مساحت $A = b * d => 1.2 * 1 => \mathbf{1.2m^2}$

محیط $P = 2d + b => 2 * 1 + 1.2 => \mathbf{3.2m}$

هایدرولیکي شعاع $m = \frac{A}{P} => \frac{1.2m^2}{3.2m} => \mathbf{0.375m}$

بازین فرمول $\mathrm{m} = \frac{157.6}{1.81 + \frac{1.54}{\sqrt{0.375}}} => \frac{157.6}{4.325} = \mathbf{36.4}$

د مجرا د جریان مقدار $Q = A * C * \sqrt{mi} => 1.2 * 36.4 * \sqrt{0.375 * {}^{1}/_{3000}} => \mathbf{0.489\, {}^{m^3}/_{sec}}$

---

مثال: یوه بحراني مقطع چې $3.75m^2$ مساحت لري په نظرکی نیول شوي ده چې د کانال طولاني میلان 1/2500 دی د ماننګ د فرمول څخه په استفاده د اوبو مقدار په لاس راوړي پداسی حال کی چې N ضریب قیمت 0.035 دی؟

$A = 3.75m^2 \quad , \quad i = {}^{1}/_{2500} \quad , \quad N = 0.035 \quad , \quad Q = ?$

$b = 2d$

$A = b * d$

$A = 2d * d$

$A = 2d^2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$d^2 = {}^{A}/_{2} => \sqrt{d^2} = \sqrt{{}^{3.75m^2}/_{2}} => \boldsymbol{d = 0.968m}$$

$$b = 2d => 2 * 0.968m => \mathbf{1.936m}$$

$$P = 2d + b => 2 * 0.968 + 1.936 => \mathbf{3.872m}$$


$$m = \frac{A}{P} => \frac{3.75m^2}{3.872} => \mathbf{0.968m}$$

$$V = {}^{1}/_{N} * m^{3/2} * i^{1/2} => \left({}^{1}/_{0.035}\right) * (0.968)^{3/2} * \left({}^{1}/_{2500}\right)^{1/2} => \mathbf{0.01\,{}^{m}/_{sec}}$$

$$Q = A * V => 3.75m^2 * 0.01\,{}^{m}/_{sec} => \mathbf{0.042\,{}^{m^3}/_{sec}}$$

---

مثال: یو خاورین کانال چی 3m عرض او 1m د اوبو ژور والي لري او کنارو میلان ئي 1:1 دی او د کانال میلان 1/1000 دی تاسی د کانال د اوبو مقدار پیدا کړي پداسی حالت کی چی چی د N ضریب قیمت د اساس میلان ئي د ماننګ په فارمول کی 0.04 منل شوي دی؟




$$A = \frac{(3 + 5) * 1}{2} => 4m^2$$

$$P = 2r + b$$

$$r = \sqrt{x^2 + y^2} = \sqrt{1^2 + 1^2} => \sqrt{1 + 1} => \sqrt{\mathbf{2}}$$

$$P = 2\sqrt{2} + 3 => \mathbf{5.83m}$$

$$m = \frac{A}{P} => \frac{4m^2}{5.83m} => 0.686m$$

$$V = {}^{1}/_{N} * m\,{}^{3}/_{2} * i\,{}^{1}/_{2} => \left({}^{1}/_{0.04}\right) * (0.686)^{3/2} * \left({}^{1}/_{1000}\right)^{1/2} => \mathbf{0.697\,{}^{m}/_{sec}}$$


(c) ketabton.com: The Digital Library



$$Q = A * V => \ 4m^2 * 0.697\, {}^{m}/_{sec} => \mathbf{2.788\, {}^{m^3}/_{sec}}$$

---

مثال: یو دایروي نل په شعاع د 1m د افق سره په 5° زاویي غزیدلي دی که چیري د اوبو ژوروالي په نل کی 0.75cm او C=65 وی تاسی په نل کی د اوبو مقدار پیدا کړي؟




$$OD = OC - DC$$

$$OD = 1 - 0.75$$

$$\mathbf{OD = 0.25}$$

$$COS\theta = \frac{OD}{OB} => \ \frac{0.25}{1} => \mathbf{0.25}$$

$$\boldsymbol{\theta}^{\circ} = COS^{-\mathbf{1}}(0.25) => \mathbf{75.5}^{\circ}$$

$$\theta^{R} = \frac{\theta^{\circ} * \pi}{180} => \frac{75.5^{\circ} * 3.14}{180} => \mathbf{1.318}$$

$$A = r^2 * \theta^2 - \frac{r^2 - Sin2\theta}{2} => 1^2 * 1.318 - \frac{1^2 - Sin(2 * 75.5^{\circ})}{2} => \mathbf{1.06m^2}$$

$$P = 2r\theta^{R} => 2 * 1 * 1.318 => \mathbf{2.636m}$$

$$m\frac{A}{P} => \frac{1.06m^2}{2.636m} => \mathbf{0.402m}$$

$$Q = A * V$$

$$Q = A * C * \sqrt{mi} => 1.06 * 65 * \sqrt{0.402 * 0.087} => \mathbf{12.9\, {}^{m^3}/_{sec}}$$

---

مثال: د یو ښارګوټي د وګړو شمیر 100000 تنه دی په پام کی ده له یوی ذخیري څخه ورته اوبه ورکړل شی چی 6.44km واټن تري لري ده د یو کس د پاره په شپه او ورځ کی 140 lit اوبه په پام کی نیول شوي دی د نوموړی ښارګوټي د پاره ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل شوو اوبو نیمایي باید په 6 ساعتونو کی ورسول شی که فشار 15 m/sec وی د اصطحکاک ضریب 0.04 وی د پایپ سایز پیدا کړي؟

**ټولی اوبه چی باید ورسول شی .**

$$Q = \frac{100000 * 140}{1000} = 14000m^3 / 2 * 6 * 3600 => \mathbf{0.0324 \frac{m^3}{sec}}$$ اوبو مقدار جریان

$hf = 15m$ د اصطحکاک له امله فشاري ضایعات

$f = 0.04$ د اصطحکاک ضریب

$L = 6.44\ km * 1000 => 6440m$

$d = ?$ د پایپ قطر

**د دارسي ویچ د فورمول له مخي.**

$$hf = \frac{F * L * Q^2}{12.1 * d^5}$$

$$(12.1 * d^5)hf = \frac{F * L * Q^2}{12.1 * d^5}(12.1 * d^2)$$

$$(12.1 * d^5)hf = F * L * Q^2$$

$$\frac{12.1 * d^2 * hf}{12.1 * hf} = \frac{F * L * Q^2}{12.1 * hf}$$

$$d^5 \frac{F * L * Q^2}{12.1 * hf} => \frac{0.04 * 6440m * \left(0.0324\, {m^3}/{sec}\right)^2}{12.1 * 15m} => \frac{0.270\, {m^6}/{sec^2}}{181.5m} => 0.00149\, {m^5}/{sec}$$

$$\sqrt[5]{d^5} = \sqrt[5]{0.00149\, {m^5}/{sec}} => \quad , \quad d = 0.27m$$

---

## RETAINING WALL

استنادي دیوالونو د هغه ساختمانونو څخه عبارت دی چی د خاورو د ښویدني او یا د سواحلو په غاړه د اوبو څخه تخریب مخنوي کوي.

استنادي دیوالونه د جوړښت له مخی په دري ډوله دی.

1- ډبرین استنادي دیوالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



2- خښتي استنادي ديوالونه
3- کانکريټي استنادي ديوالونه

او هم د يادولو وړ ده چې بعضي وخت د مواقتي استنادی ديوالونو د جوړنو د پاره د فلزي او لرګی څخه هم استفاده کيږي .

استنادي ديوالونه نظر د هغه پايداري او ثبات(achieving stability) ته په شپږو برخو ويشل شوي دی.

1- وزني استنادي ديوالونه(Gravity Retaining walls)
2- کنسولي استنادي ديوالونه(Counterfort Retaining walls)
3- قبرغه لرونکی استنادی ديوالونه(Buttressed Counterforce Retaining walls)
4- کانترافوس استنادي ديوالونه(Counterforce Retaining walls)
5- اخوری شکله استنادی ديوالونه(Crib Retaining walls)
دا ديوالونه معمولا د لرګيو، کانکريټو او بعضي وخت د فلز څخه جوړيږي او بيا د هغه مابين کی نور مواد(ريګ او ډبری ) اچول کيږي .
6- نيمه وزني استنادی ديوالونه(Semi Gravity Retaining)
نوټ: استنادي ديوالونه معمولا د خاورو هغه فشار زغمي کوم چې د هغه شاته واقع وی اکثره وخت استنادی ديوالونه د رود د غاړو تخريب د مخنوي او بعضي وخت د رود د غاړو د ښايست د پاره جوړيږي.

**د خاوري د فشار طبقه بندي (classification earth pressure)**

په يوه استنادی ديوال باندی خاوره دوه ډوله فشار وارد وی.
1- فعال فشار (active pressure)
2- غير فعال فشار ( passive pressure)

د خاورو د فعال فشار تيوري د تعينولو د پاره لاندی ميتودونه وجود لري.

1- رينکن ميتود(rankin's method)
2- کولمب ميتود(coulomb method)
3- کولن متيود(colon's  method)
4- رسمولو متيود(drawing method)
په ذکر شويو ميتودونو کی د رينکن او کولمب ميتودونه صحيح او دقيق ارقام ارايه کوی.

استنادي ديوالونه نظر د ساحی شرايطو، د ساختماني موادو شته والي، د ساحي توپوګرافي ته په کتو په دريو لويو ګروپونو ويشل شوي دی.

1- وزني استنادي ديوال (gravity retaining walls)
هغه ديوال ته ويل کيږي چې د هغه استواري د ښويدو او چپه کيدو په وړاندي د هغه د خپل وزن له اثره تامين شوي وی دا ديوال معمولا د ډبرينو معمورو(ناريه يا ګرانيټ ډبري) څخه د کانکريټو په مرسته جوړيږي. د يادولو وړ ده چې ناريه احجار يا ګرانيټ د اوبو په وړاندي فوق العاده مقاوم دی
2- کنسولي استنادي ديوال(cantilever retaining wall)
دا ديوالونه اکثره وخت د اوسپنيزو کانکريټو څخه جوړيږي او هغه وخت د اعمار وړ وی چې ډبرين استنادي ديوال غير اقتصادی تمام شی ددی ديوال د جوړلو څخه يواځنی غوښتنه د کانکريټو کموالي دی .
3- کانترافورسي (پښتي لرونکی ) استنادی ديوالونه (counterforce/tie back retaining wall)
دا ديوالونه په هغه وخت کی اعماريږي چې د کنسولي استنادي ديوال ارتفاع ډيره زياته شی(حداقل تر 6m پوري ورسيږي) نو ددی په خاطر چې د ديوال ابعاد زيات نه شی نو کنسولي استنادي ديوال ته پښتي ورکول کيږي.
4- قبرغه لرونکی استنادي ديوالونه(Buttressed retaining wall)
This is a counterforce retaining wall with the main different that the vertical brackets are provide in front of the wall (on force opposite to the face retaining back fill)

(c) ketabton.com: The Digital Library



5- اخوري شکله استنادي ديوالونه(crib retaining walls)
دا ديوالونه د اخور شکل لري او معمولا د لرگيو، کانکريتو تختو او فلز څخه جوړيږي چې وروسته بيا د هغه مابين له خاورو او ډبرو څخه ډکيږي.
نوټ: استنادي ديوالونو د ډيزاين محاسبه نظر د ساحی جوړښت ، د ساحی شرايطو او ساختماني موادو شته والي ته فرق لري.

## CULVERT

پلچک: د انجينيري مصنوعی ساختمان په سرک ، کانال ، خوړ او تنګي دري باندی د پلچک څخه عبارت دی چې د سطحي اوبو ، عراده جاتو او پايپ لاينونو د مصؤن او بی خطره تيريدو لپاره د نوموړو ساختمانونو په مسيرونو کی جوړيږي.

سوال: ساختمان مصنوعي چيست وبه چند نوع می باشد؟

جواب: ساختمان مصنوعی عبارت از ساختمان های انجينيري و دفاعی سرک می باشد که عبارت اند از پل ، پلچک ، گالري، ديوار استنادي ، سيلبرها ، شرشره وغيره رامي توان نام برد. که هر کدام ان ها جز اساسي سرک بوده که در وخت لذوم ديد ساحه از ان استفاده می گردد.

د پلچک ابعاد د لاندی عواملو پوري اړه لري
1- هايدرولوژيکي عوامل (د اوبو مسير او د هغه د جريان مقدار او اندازه )
2- سرک عوامل
3- توپوگرافيکی عوامل

په پلچک باندي د اضافي خاوري اندازه (د اضافي خاوري عمق) بايد د نيم متر څخه کم نه وی او همدارنګه د پلچک د پوښښ عرض ميل 2% څخه کم نه وی.

د پلچکونو هايدروليکي رژيم :

په پلچکونو کی معمولا دري ډوله هايدروليکي رژيمونه وجود لري او نظر همداغه رژيمونو ته د پلچک نوعيت انتخابيږي .

1- فشاري رژيم : د پلچکونو د هغه حالت څخه عبارت دی چې د پلچک په مجرا کی خلاء وجود ونه لري يعني د پلچک مکمله مقطع د اوبه تر يوه مکمل ارتفاعی فشار لاندی قرار ولري چې پدي حالت کی د پلچک په مخکيني برخه کی د اوبو د ډب کيدو په خاطر هغه ته له 20% څخه زيات ميل د وروستي قسمت په پرتله ورکوي.
2- غير فشاري رژيم : د پلچک د هغه حالت څخه عبارت دی چې د هغه ټوله مقطع د اوبو لاندی نه وی بلکي هغه په مجراء کی کاملا ازاده فضاء موجوده وی.
3- نيمه فشاري رژيم : د هغه حالت څخه عبارت دی چې د اوبو د ډپ کيدو ګمان تر 20% ارتفاع پوري موجود وی ليکن د پلچک په مقطع کی ازاده سطح کاملا موجوده وی .

فشاري رژيم د زراعتي او مسکونی منطقو د پاره نه توصه کيږي بلکي په ژورو او کم عرضه مجرا ګانو غير مسکوني او زراعتي ساحو کی اقتصادي او د توصي وړ دی .

د يادولو وړ ده چې په فشاري رژيم کی خروجی سرعت (د خروجی مجراء د مينځلو سرعت ) کنټرول ضروري دی تر څو له يو خوا د بحراني سرعت څخه تجاوز ونه کړي او له بلي خوا مجراء ونه مينځل شي(خروجی سرعت بايد د 6m/sec څخه زيات نه شی)

د پلچک د پوښښ تختي ميلان د (2%-4%) په انټروال کی دواړو طرفو ته په نظر کی نيسي او د هغه په سر د لنده بل ضد مواد استعمالوي د تهداب لاندي د 10cm په اندازه ريګي يا PCC طبقه په نظر کی نيول کيږي د پلچکونو مقاومت د ترافيکو په حجم د اعراده جاتو په نوعيت د اوبو په مقدار او سرک په کلاس پوري اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پلچکونو اجزاوی په لاندی ډول دي.**

1- پلچکونو تهداب
2- بلچکونو پائي (اتکائي ديوالونه ، قنداقونه Abutment)
3- ګلګيری يا حفاظتي ديوالونه (wing wall)
هر پلچک څلور ګلګير(نيوونکی) ديوالونه لري چې دا ديوالونه له يوی خوا د پاسنيو خاورو د ښويدو څخه مخنيوی کوي او له بلي خوا اوبه د پلچک اصلي مجراء ته هدايت کوي.
4- د پوښښ طبقه چې معمولا د کمان يا سلب په شکل وی
5- د پلچکونو لانديني فرش خولي او خروجی لمن
6- د پلچک په خروجی لمن کی د اوبو د انرژي کمولو لپاره ساختمانونه (ځاه يا اوبه ګرځوونکی ديوالونه)

**پلچکونه معمولا په څلور ډوله دی**

1- سلب ډوله پلچک (slab culvert): هغه پلچک ته وائي چې وزن برداره عنصر ئي سلب وی او د مستطيلي يا مربعي مقطع لرونکی وی د سلب ډوله پلچک څخه په هغه ځايونو کی استفاده کيږي چې اساس خاوره نسبتا محکمه وی او همدارنګه د کانال او يا ويالي ارتفاع د سرک له سطحی څخه زياته نه وی او په هغه منطقو کی چې ډبري زياتي ولري لا نور هم اقتصادي دی.
2- کمان ډوله پلچک (Arc culvert ): ددي ډول پلچکونو تکنالوژی مشکله ده اما د عمودي قوو په وړاندي فوق العاده مقاومت لري.
3- بکس ډوله پلچک(Box culvert): ددی پلچکونو څخه په هغه ځايونو کی استفاده کيږي چې د اساس خاوره ضعيفه او مقاومت ئي کم وی ددي ډول پلچکونو چت او جانبي ديوالونه د سيخ لرونکی کانکريتو څخه جوړيږي ددي پلچکونو وايه د 3m څخه زياته نه وی او ارتفاع ئي بايد د 60cm څخه کمه نه وی.
4- پايپ ډوله پلچک (pipe culvert): کله چې د اوبو اندازه زياته او پلچک په سر د خاوري او د سرک د طبقوضخامت زياتيږي نو ددي ډول پلچکونو څخه استفاده کيږي نوموړي پلچکونه د پايپونو تعداد د باران او اوبو په اندازه پوري اړه لري

## STRUCTURAL MANAGEMENT PART

ساختماني اداره /ساختماني پروژي مديريت:

په سيستماتيکی طريقي سره د منابعو، تجهزاتو او پروژي د غړو تر منځ مناسبی همغيري رامنځته کول دي ترڅو د ټاکلي مهالويش، بوديجي او کيفيت سره سمه پروژه بشپړه شي.

د مديريت عمده دندي:

1- پلانګذاري  2- تنظيمونه  3- استخدام  4- کنترول  5- لارښوونه/رهبري

استخدام سرچيني:

الف: داخلي سرچيني........تقاعد ، تبديلول ، داخلي درخواست ، پرمختګ

ب: خارجي سرچيني ........ويبسايټ ، اعلانات ، واسطي

پروژه : يو مؤقت عمل دی چې لرونکی د يو معين پيل پای او بوديجي وی چې يو خاص توليد يا خدمت د پاره ترسره کيږي.

د پروژي خواص:

1- مشخص هدف ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2- پيچلي او مغلقه وي.
3- ځانګړي او بي څاري وي.
4- مشخص پيل او پاي ولري.
5- مصرف کوونکي منابعو درلودل.
6- مشخص تشکيل ولري.

د پروژي معتبر اسناد عبارت دي له

اول: ژورنال دوهم: نقشه دريم: مشخصاتو جدول څلورم: د قرارداد اسناد

د پروژي اجرا کوونکي(project player)

الف: فرعي اجراکوونکي (secondary player) پدي برخه کی خارجی کسان شموليت لري.

ب: اصلي اجراکوونکي(primary player) پدی برخه کی دخيل کسان شموليت لري چي عبارت دی له.

1- څښتن: د بوديجي د برابرلو دنده په غاړه لري. او په دوه ډوله دی عامه او شخصي څښتن
2- ډيزاينر: د فزيکي اعمار دنده په غاړه لري. او دا هم په دوه ډوله دی Architect او Engineer
3- قراردادي: مسلکی اعمارونکي هغه شخص دی چی د ساختمان ټولي برخي د جوړولو دنده په غاړه لري .... او دا هم په په دوه ډوله دی اصلي قراردادي (چه د څښتن نا په اول لاس پروژه اخلی ) او دوهم فرعي قراردادي

ساختماني پروژو ډولونه :

1- لوي يا زيربنائی ساختماني پروژي
2- تعميراتي ساختمانی پروژي
3- صنعتي ساختماني پروژي
4- عاجل يا مخصوص پروژي
5- رهايشي ساختماني پروژي

د پروژي دوران (project life cycle) پنځه مرحلي لري:

1- د پروژي افتتاحيه مرحله
2- د پلانګذاري مرحله
3- کاري مرحله
4- د نظارت او ارزيابي مرحله
5- د پروژي خاتمه

سوال: قرارداد تعريف کړي؟

له يو دوه اړخيزه حقوقي عمل څخه عبارت دي چي د دواړو اړخونو په توافق سره صورت نيسي او د عقدولو او فسخه کولو د پاره ئي دواړه اړخونو رضايت شرط دی.

سوال: Agreement او Contract ترمنځ فرق څه دی؟

ټول هغه اړيکي چه قانوني بڼه ولري قرارداد بلل کيږي او که قانوني بڼه ونه لري نو يواځی موافقه بلل کيږي .

سوال:مديريت دوران پروژه شامل چند مرحله می باشد هر يک ان را نام بيريد؟

1- مرحله تشخيص 2- مرحله ډيزاين 3- مرحله تطبيق 4- مرحله ارزيابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



همچنان پروژه برشش بخش به ترتیب ذیل نیز بوده میتواند.

1- پروګرام	2- تشخیص یا شناسائي	3- پلانګذاري و ډیزاین	4- تمویل
5 - تطبیق	6- ارزیابي

Quality Control:

سوال: QC/QA تشریح کړی او فرقونه ئي څه دي؟

Quality Control په ساختماني کارونو کی د کار کیفیت تر څارني لاندي نیسي او Quality Assurance په ساختماني کارونو کی د کار کیفیت تایدوي نو ویلای شو چی ترمنځ یی یو څه فرق شته QAد ډونر یا Client لخوا او QC د قراردادي (subcontractor) لخوا د پروژي د پاره موظف کیږي.

سوال: Quality Controlځو مهمي پروسی لري نومونه ئي واخلي؟

1- Preparatory phase
2- Initial phase
3- Follow-up

سوال:DQCR څه شي دی؟

Daily Quality Control Report

پلان تعریف: د یو کار مخکي نا سنجول شوي نتیجي ته پلان وایي.

سوال:QCM یعني؟ د ساختمان د کیفیت څار اداره (Quality Control Manager):

د کیفیت د څار د اداري دنده داده چی ځان باوری کړي ایا د ساختمان ټولي چاري د پلانونو،مشخصاتو او بودیجی مطابق پر خپل وخت په بي خطره محیط کی ترسره شوي دی او که نه ......

سوال:CQC یعنی څه؟ د قراردادي د کیفیت کنټرول(Contractor Quality Control):

دقراردادی د کیفیت کنترول اساسی دنده داده چی ځان باوری کړی چی تکمیل شوي پروژه په قرارداد کی د کیفیت له غوښتنو سره سمه سره ته رسیدلی یا خیر دې دندي ته باید د قراردادي د رهنما په توګه د CQC پلان برابر شی او د کار په جریان کی ددې پلان له مخی ځان باوري کړی چی د کیفیت د لاسه راوړلو لپاره غوښتل شوې معیارونه عملی کیږي.

سوال:GQA اصطلاح واضحه کړی؟ د دولت اخوا پرکیفیت باوري کیدل(Government Quality Control):

دا دنده د دولت ده چی قراردادي کارونه په مؤثره توګه وګوري او له کیفیت څخه ئي ځان باوري کړي دولت پدی ترڅ کی کولای شی چی مطالعه (Review) څارنه او ټستونه ترسره کړی .

سوال:QCM ګټي کومي دې؟

دواړه قراردادي او دولت د ساختمان کیفیت د مؤثري اداري لپاره علاقه وښائي او دا کار دولت ته ډیري ګټي لري د مثال په توګه کار د پلان مشخصاتو او ټاکلی بودیجي له مخی پخپل وخت اجرا کیږی مراقبت په اسانی ترسره کیږی او په کار په یو بي خطره محیط کی صورت نیسي په لنډ ډول داسی ویلی شو (پیسو ځای ونیو)

سوال:قراردادي ته د QC ګټي کومي دی ذکر ئي کړي؟

1- د زیاتو غیر ضروري لګښتونو مخه نیول.
2- کم لګښتونه ددې لامل ګرځی چی قراردادي ته ډیره ګټه په لاس ورشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3- په ښه کیفیت سره کار د کمپنی د ودي لامل ګرځی او په راتلونکی کی ورته د نورو قراردادونو زمینه برابریږی.
4- قراردادي ته د یو ښه کیفیت لرونکی تولید په بدل کی د دولت لخوا ستاینلیک او انعام ورکول کیږی چی دا یوه لویه معنوي ګټه ده او په فزیکي بنیاد نه اندازه کیږی.

سوال:دولت د CQC ګټې کومي دي؟

1- بشري ځواک په کار اچول کیږی
2- په پروژه کی د نواقصو کچه راکمیږی او دولت د نمګړتیاوو د اصلاح کولو لپاره خپلی وړتیاوي ښي.
3- که پروژه پخپل وخت ترسره شی عامه اړیکی او له پروژی څخه ګټه اخستونکو باور وده او پراختیا مومی.
4- لګښت او وخت سپما کیږي.

سوال:د پروژو څخه ګټه اخستونکو ته د CQC ګټی کومي دي؟

پروژه پخپل وخت ،ټاکلي بودیجي او خوندي توګه ترسره کیږی.

سوال:QCM مسؤلیتونه کوم دي؟

1- د مشخصاتو او پلان له مخی د کیفیت کنترول.
2- مؤثر CQC سیستم ته پراختیا ورکول.
3- کار ودرول .
4- په کنترول پوري د ټرلو فعالیتونو او ټستونو ترسره کول.
5- د QC فعالیتونو او اسنادو برابرول.

سوال:د یوی پروژي د فزیکي کارونو د پیل څخه وړاندی د قراردادي او دولت ترمنځ څو ناستی (کنفرانسونه) نیول کیږي او کوم څه پکی ویل کیږی ؟

دري او یا هم په ممکنه توګه څلور ناستی (کنفرانسونه)مخکی د پروژی د پیل څخه په نظر کی نیول کیږي.

1- د قرارداد وروسته د قراردادي د روزني کنفرانس.
2- د قرارداد وروسته د بي خطره تخنیک کنفرانس.
3- د همغږي او یا د دوه اړخیزه تفاهم ناستی (کنفرانس).
4- څلورمه ناسته اختیاري ده که د قراردادي QCM وغواړي دا ناسته رابللی شي او دا ناسته د CQC پلان انکشاف د اړتیاوو او وضاحت لپاره ترسره کیږی .

سوال:لایحه وظایف یک سوپروایزر چیست؟

1- د یو ډیزاین شوی پروژی بطبیق په ساحه کی
2- د ترسره شوی کار حجم تثبیتول په فیصدي
3- ساحوي انجینیرانو ته مشوري ورکول د ډیزاین شوي پروژي تطبیق په خاطر
4- د پروژي د کار وضعیت راپور ورکول مربوط داري ته
5- د ترسره شوي کارونو د بیلونو ترتیبول
6- د کار د کمیت او کیفیت کنترول
7- د کار د پرمختګ په خاطر تخنیکي راپور تر تیبول

سوال:- : د ودانیو حرارتي ضایعات په څو طریقو تر سره کیږي؟

جواب:-حرارتي ضایعات د دیوالونو،چت،فرش،کړکیو او دروازو له لیاري تر سره کیږیاو هم د هوآ د نفوذ له لیارې

سوال:- فاصله بین ګره هاي شبکه هاي خارجي آبرساني در حدود چند متر در نظر ګرفته میشود؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواب:-فاصله بين گره ها در حدود 500 الي 1500 متر در نظر گرفته ميشود.

سوال:- : د هايدروليكي ضرباتو د د فع په خاطر د اوبه رسوني په نلونو كي كوم تدبير په پام كي نيسو؟

جواب:- د مختلف النوع چک والونو څخه استفاده کوو

سوال:- :د ميخانيكي تصفيي د اساسي ساختمانونو نومونه واخلئ؟

جواب:-د ميخانيكي تصفيي اساسي عناصر عبارت دي له:پنجرو،چرب گيرها او ترسبگاه

سوال:- : د فاضله اوبو د تحليل او تجزيې لپاره مونږ له كومو طريقو څخه كار اخيستلى شو؟

طريقه تصفيه كيمياوي ,طريقه تصفيه بيولوژيكي ,طريقه تصفيه ميخانيكي

سوال:- : ساختمانها از نظر ميزان تردد جمعيت به چند دسته طبقه بندي گرديده است؟

جواب:-ترافيك سبك بدون زمان پيك ,ترافيك متوسط مانند استفاده كننده گان منازل رهايشي ,ترافيك سنگين

ترافيك خاص مانند كلينك ها ، شفاخانه ها و پوهنتون ها و غيره

سوال:- : د فابريكوي او يوريخت اوسپنيزكانكريتي عناصرو تر منځ توپير واضح كړئ؟

فابريكوي عناصر مخكي له مخكي په ساحه كي په معلومو اندازو ترتيب او جوړيږي او په ساختماني ساحه كي يې فقط منتاژ صورت نيسي،مگر د يوريخت عناصرو لپاره په ساحه كي قالبونه تړل كيږي چې له سيخبندۍ وروسته ورته په معين مارک كانكريټ تياريږي او بيا ډكيږي

سوال:- : په يو اوسپنيزكانكريتي پايي كي د گڑدمكونو دنده كومه يوه ده،تشريح يې كړئ؟

جواب :- د عرضي قواوو په مقابل كي مقاومت ,د طولي سيخانو ساتل په معين موقعيت كي

د زلزلې په جريان كي د كانكريتي هستي ساتنه

سوال:- : په حلقوي پوښښونو كي څو نوعه مومنتونه مونږ محاسبه كوو؟

دوه ډوله: انحنايي شعاعي او انحنايي محيطي

سوال:- :د يو نفر لپاره د كاناليزاسيون نورم په افغانستان كي څومره دی؟

0.008 مترمكعب د يوه شخص لپاره

سوال:- : څو ډوله د اوبو تصفيه پيژنئ؟

دوه ډوله:بيالوژيكي تصفيه او كيمياوي تصفيه

سوال:- :د سپتيک څاه ژوروالی نظر كوم فكتور ته تعينيږي؟

نظر د كاناليزيسيون نورم ته چې د يوه نفر د في شبانه روز لمخي تعين شوی وي

**د رنګمالی براورد**

د رنګمالی براورد عموماً د متر مربع (M2) او یا هم فټ مربع (Ft2)په اساس ترسره کيږي، مونږ د رنګ دوه ډوله ستندرد ګیلنونه (Gallons)لرو، چې عبارت دي له

د :Uk Gallon ددې ډول ګیلنونو حجم 4.54 لیتره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د US Gallon: چې ددې ډول ګيلنونو حجم 3.785 ليتره وي
يو UK Gallon د 200 ft2مربع نوی سطحي د رنګولو لپاره کفايت کوي
مګر که ساحه يو ځل ښخوا رنګ شوي وي، او وغواړو چې دوباره يي ترميم(بيا ځلي) رنګمالي کړو، نو بيا يو ګيلن رنګ د 350 ft2 سطحي د رنګولو لپاره کفايت کوي
مثال : يو ديوال چې پخوانی رنګ يي له کاره لويدلی غواړو چې دوباره يي رنګمالي کړو تاسي ورته د ضرورت وړ مقدار رنګ محاسبه کړئ،په هغه صورت کې چې د ديوال طول 60 فوټه او لوړوالی يې 11 فوټه وي؟
حل: لومړی دديوال مساحت پيداکوو

Area of wall = L × h

Area of wall = 60 Ft × 11 Ft

Area of wall = 660 Ft2

د بلې خوا لرو چې

1 UK Gallon Cover = 350 Ft2

نو لرو چې

660 Ft2 / 350 Ft2 = 1.88 Gallons

ليدل کيږي چې 1.88 ګيلنه رنګ ته ضرورت دی، چې کولی شو دوه ګيلنه يې هم په پام کې ونيسو

**د سطحي يا مساحت په اړه لنډ او ګټور معلومات:**(Brief Information About Area)

**هکتار :(Hectare)**

1هکتار مساوي ده په 5 جريبه
1هکتار مساوی ده په 2.471 ايکره
1هکتار مساوي ده په 100 بسوي
1هکتار مساوي ده په 2000 بسواسي
1هکتار مساوي ده په 10000 متر مربع

**جريب :(Jirib)**

1جريب مساوي ده په 20 بسوې
1جريب مساوی ده په 400 بسواسي
1جريب مساوي ده په 2000 متر مربع

بسوه :(Biswa)

1بسوه مساوي ده په 20 بسواسي
1بسوه مساوي ده په 100 متر مربع

**بسواسه :(Biswasa)**

1بسواسه مساوي ده په 5 مترمربع

**در مجموع سه نوع گادر را ميتوانيم در ستركچر تعمير كار بگيريم :**


1- گادر آويزان(dropped beam): كه براي رفع كردن وايه يا فاصله هاي كم معمولا الي 8 متر طول استفاده ميشود و اگر طول زيادتر شود بلندي اين گادر هم نظر به فارمولهاي ديزاين ستركچر زياد ميشود.

2- گادر چپه(beam Inverted): كه براي رفع كردن وايه هاي كلان يا طولهاي زياد در چت ها استفاده ميشود, و چون بلندي آن طرف بالاي چت است لذا مانع گشت و گذار ميشود به همين خاطر در چت هاي بامها استفاده ميشود و ,در بام هم بايد بالاي آن قيچي پوش شود و آهن چادر گرفته شود تا آب باران در بين حوضچه هاي ميان گادرهاجمع نشود.

3- گادر مغزي(hidden beam): كه هم ارتفاع چت انداخته ميشود .
در صورتيكه در كدام قسمت چت ديوار كار ميشد كه گادر تعمير زير آن نباشد, بايد بيم مغزي در زير همان قسمت ديوار در چت انداخته شود.
و همچنان بيم مغزي در صورتيكه وايه يا طول سلب (چت) زياد باشد بخاطر احتياط از لرزه كردن چت انداخته ميشود, و بيم مغزي هم توسط فورمول محاسبه ميشود, تخميني نبايد انداخته شود

(c) ketabton.com: The Digital Library






**مراحل بازرسی و نظارت از کار تهداب های آّهن کانکریتی**

1 . لیول نمودن سطح PCC کف تهداب مطابق عمق دیزاین شده تهداب

2 . کنترول اندازه های قالب تهداب ( طول، عرض و عمق) مطابق اندازه های مهندسی و استرکچر

3 . مطمین شدن از عدم شکستگی ویا سوراخ در قالب بندی که سبب حدر رفتن شیره کانکریت نگردد

4 . سنتر نمودن تهداب ها ویا کنترول فاصله های تهداب ها از همدیگر مطابق نقشه ها

5 . پاک بودن قالب ها از مواد اضافی مانند خاک، گل و لای و غیره

6 . تعیین عمق موثر ویا ضخامت تهداب کانکریتی مطابق نقشه های استرکچر

7 . مطمین شدن از محکم کاری قالب های تهداب و برداشت بار مخلوط کانکریت هنگام کانکریت ریزی

8 . آماده بودن قالب برای سیخ بندی مانند پاکی و محکمیت آن

9 . کنترل قطر ، تعداد و موقعیت سیخ های تهداب مطابق نقشه های استرکچر

10. استفاده اسپیسر برای قشر محافظوی تحتانی و جانبی تهداب آهن کانکریتی

11. اطمنان از گرید مخلوط کانکریت مطابق مشخصات تعین شده


12. استفاده از ویبراتور هنگام کانریت ریزی

13. کانکریت ریزی تهداب مطابق مقررات کانکریت ریزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



14. مراقبت و مرطوب نگهداشتن تهداب بعد از کانکریت ریزی مطابق مقررات ساختمانی




**هغه ترټولو اړين ټکي چې د ساحې انجينر يې بايد پام کې يې ونيسي .**

1. هغه سیخان چي قطر يې له 36mm زیات وي پیوند کولو اجازه یي نشته .
2. د نبلونکی یا ډاول سیخ قطر باید لږترلږه 12mm وي .
3. په تهداب کې د کانکریټو په هر مترمکعب د سیخانو اندازه 56kg څخه تر 89kg پورې وي
4. په پایو کې د کانکریټو په مترمکعب کې د سیخانو اندازه 115kg تر 144kg پور وي او د سیخانو مساحت د پایې د عمومي مقطعې د مساحت له 0.8% کم نه وي او له 6% زیات نه وي.
5. د بیم د وایي اوږدوالی باید د بیم پلنوالی ضرب 60 یا (b60) څخه زیات نه شي
6. په بیم کې د کانکریټو په هر مترمکعب کې د سیخانو اندازه د 108kg تر 125kg.
7. د مربعوي پایو د سیخانو شمیر له څلورو او د دایروي پایو له شپږو کم نه وي .
8. په سلب کې د کانکریټو په هر مترمکعب کې د سیخانو اندازه 56kg تر 89kg پورې وي .
9. د سلب ترټولو کم پیروالی 125mm دی .

10. وي او ويشونکو سيخانو قطر له mm8 کم نه وي او د سلب د پيروالی له 8/1 زيات نه وي .
11. د مکعبونو په اندازو کې توپیر 2mm - + پورې د منلو دی .
12. د کانکریټو راغورځیدو ترټولو زیات لوړوالی 1.5m دی له دې زیات د منلو نه دی .
13. د خښتو د جذب د اوبو جذب د هغې د تول وزن له 15% زیات نه وي .
14. په کانکریټو کې د کاریدونکو اوبو pH قیمت د 6 او 8 ترمنځ وي ،هیڅ ډول غوړ ،تیزاب ،الکلي ، عضوي مواد ،مالګه ،او نورې ناپاکی ونه لري .
15. د خښتو فشاري مقاومت23.5 N/mm
16. د هرمتریک ټن سیخانو د تړلو لپاره 8kg بلډنګ ویر ته ضروت وي .
17. د ډکون خاورې د ازمایښت لپاره په هرو 100 متر مربع کې باید درې نمونې واخستل شي .
18. په پایو کې باید د برېښنا د لینونو پایپونه تیر نه شي .
19. د تهکوی کندن کاري چې له 3m زیاتیږي باید د پټو په شکل ترسره شي .
20. که د خاورې ډکون پام کې وي نو باید تر 95% وچ حجمي کثافت پورې تخته شي .د هرې تخته کوونکي طبقې پیروالی له 20cm زیات نه شی .
21. که د کانکریټو اچولو مقدار زیات وي د هرو 30 مترمکعب کانکریټو لپاره باید د مکعبي نمونو ازمایښت ترسره شي .د هر لیول لپآره او د هرې پیمانې لپاره .
22. د بیلابیل مارک کانکریټو د اوبو او سیمنټو نسبت باید د M20 او پورته لپاره له 0.45 او د M10/M15 لپاره له 0.50 زیاته نه شي.
23. د M20 او له پورته مارک کانکریټو لپاره باید منظور شوې او ډیزاین سره سم علاوه کوونکي مرکبونه (admixture) وکارول شي .
24. سیمنټ باید له ځمکې له سطحې 20cm پورته په وچ ځای کې ګودام شي .د بوجیو کتار باید سرېپه سر له 10 زیات نه شي .د بره لمبل د مخنیوي لپاره ځای سرپوخ ولري ،د لمر او لمدبل څخه خوندي وساتل شي .


(c) ketabton.com: The Digital Library



25. د کانکریټو د فشاري مقاومت مالومولو لپاره لږترلږه د تازه کانکریټو 6 نموني واخستل شي چې 150mm ابعاد ولري .درې نمونې د 7 ورځو لپاره او 3 د 28 ورځو لپاره ضرور ازمایښت شي .د ازمایښت باید چک شي که د قناعت وړ نه وي باید اړین ګامونه پورته شي .

26. سیمنټ باید د ابتدایی جوش یا نښتو (لومړی نیم ساعت )او هم د وروستی جوش یا نښتو (final setting)لپاره چک شي ،چې ورستی باید له ساعته زیات نه وي .
27. یومتر د سیخانو وزن قطر مربع تقسیم 162
28. د کانکریټ اوبه ورکولو ته ډیر پام وشي که عادي پورتلنډ سیمنټ کارول شوي وي 14-28 ورځو پوري اوبه ورکول شي .که سوپر سلفایټ سیمنټ کارول شوي باید لږترلږه 7 ورځې اوبه ورکول شي .
29. د سیخانو لپاره د کانکریټو محافظوي قشر ، د تهداب لپاره 50mm ،د د بیم لپاره 25mm ،د شیروال لپاره 25mm ،د سلب لپاره 20mm ،د پایي لپاره 40mm ،د خاورې لپاره استنادي دیوال 20mm-25 ، د اوبو لپآره استنادي دیوال 20mm-30، د چجې لپاره 25mm.
30. د کانکریټ جوړولو پروخت په مکسر ماشین کې باید کانکریټ لږترلږه یوه دقیقه او زیات نه زیات درې دقیقې وخت پرېښودل شي .





(c) ketabton.com: The Digital Library






# اسلامیات

**د لمونځ تعریف:** د صلوة لغوي معنا يو لوري ته مخ گرځول، مخکې تلل، دعاء کول، او نږدې کېدل دي په قرانکريم کې چې د صلوت لفظ ذکر شوي هدف تري د الله ج لوري ته متوجه کېدل، د هغه لوري ته ورتلل، له هغه څخه د دعاء او رحمت غوښتنه او د هغه په وړاندې تواضع او عاجزي کول دي. د اسلامي شريعت په اصطلاح کې لمونځ هغه بدني عبادت دی چې په ځانګړو افعالو او اقوالو مشتمل، په تکبير تحريمه پيل او په سلام سره پاي ته رسيږي.

## په اسلام کې د لمانځه اهميت:

د قران او سنت د مطالعي په نتيجه کې موږ د لمانځه پر اهميت ښه پوهيدلاي شو ددغو اياتونو او احاديثو خلاصه په لاندې ډول ده.

- ✓ له ايمان څخه وروسته د اسلام دويمه اساسي رکن لونځ دي
- ✓ الله ج سره د اړيکو د ټينګښت تر ټولو ستره وسيله لمونځ دي
- ✓ لمونځ د مسلمان سره د مشکلاتو او تکاليفو په حلولو کې مرسته کوي
- ✓ لمونځ د پخواينو سترو پيغمبرانو دنده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ زمونږ پيغمبر محمد[ص] ته هم د الله[ج] لخوا د لمانځه حکم شويدي
- ✓ لمونځ پريښودل انسان د جهنم مستحق ګرځوي
- ✓ اسلام لمونځ پريښودلو ته په ميدان کې هم مسلمانانو ته په جماعت سره لمونځ کولو امر شوي دي
- ✓ د ايمان له راوړلو وروسته مسلمان څخه دويمه غوښتنه داده چې لمونځ له خپلو شرطونو او ادابو سره اداء کړي
- ✓ د کافر او مومن ترمنځ حقيقي توپير په لمانځه سره ښودل شوي دي
- ✓ د قيامت په ورځ به تر هر څه مخکې د لمانځه په اړه پوښتنه کيږي
- ✓ د لمانځه فرضيت عمومي دي لمونځ د نورو عباداتو په څير نه دي چې پر ځينو اشخاصو فرض وي او پر

## د لمانځه سنتونه:

فرايضو او واجباتو ترڅنګ په لمانځه کې ځيني نور کارونه داسي دي چې رسول الله [ص] د لمانځه پر مهال په دوامداره توګه تر سره کړي دي. که څه هم د دغو کارونو نه ترسره کول د لمانځه د فساد او کراهيت سبب نه ګرځي خو اجر او ثواب څخه خالي نه وي او دغه سنت کارونه په لاندي ډول دي.

1- د تکبير تحريمه له ويلو د مخه غوږونو ته دواړو لاسونو پورته کول.
2- د لاسونو د پورته کولو پرمهال ګوتي خلاصي پريښودل.
3- د تکبير تحريمه څخه وروسته د نارينه ؤ د پاره په نامه او د ښځو د پاره په سينه باندي لاسونه ايښودل.
4- ښي لاس په چپ د پاسه ايښودل.
5- د تکبير تحريمه ويلو پر وخت سر نه ټيټول.
6- د امام د پاره د تکبير تحريمه او ارکانو تکبيرونه لوړ اواز ويل.
7- سبحانک اللهم لوستل.
8- اعوذبالله لوستل.
9- په هر رکعت کې د سورت فاتحی نه مخکې په پټه توګه بسم الله لوستل.
10- د فاتحی د سورت په ختميدو سره امين ويل.
11- ثناء اعوذبالله او بسم الله په پټه توګه لوستل.
12- په رکوع او سجده کې لږ تر لږه دري ځله تسبح ويل.
13- په رکوع کې سر او ملا يو شان برابرساتل.
14- په قومه کې د امام د پاره (سمع الله لمن حمده) او د مقتدي (ربنالک الحمد) او يواځي لمونځ کونکو د پاره دواړو ويل.
15- سجدي ته تلو پر وخت لمړي زنګونه په ځمکه لګول بيا دواړو لاسونه بيا پزه او تندي لګول.
16- په جلسه او قاعده کې دواړه پښي په داسي شکل درول د ګوتو سرونه يې قبلي لوري ته برابر وي او دواړه لاسونه په زنګونو ايښودل.
17- په وروستي قاعده کې د التحيات څخه وروسته درود شريف لوستل.
18- له درد شريف څخه وروسته ما ثوره دعاء لوستل.
19- لومړي ښي لوري او بيا چپ لوري ته سلام ګرځول.

## د لمانځه فرضونه:

په لمانځه کې دوه ډوله فرضونه شته اول خارجي فرضونه او دوهم داخلي فرضونه .

1. د لمانځه شرطونه يعنی خارجي فرضونه
   - ✓ طهارت
   - ✓ د بدن پاکوالي
   - ✓ د ځاي پاکوالي
   - ✓ د جامو پاکوالي
   - ✓ د وخت داخليدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د عورت پټول

2. د لمانځه ارکان یعني د لمانځه داخلي فرضونه
- ✓ نیت
- ✓ تکبیر تحریمه
- ✓ قیام
- ✓ قراءت
- ✓ رکوع
- ✓ سجده نوټ(وروستي قاعده فرض ده)

# د لمانځه مکرو وختونه

## د لمانځه مکرو وختونه په دري ډوله دي.

1- هغه وختونه چي هر ډول لمونځ کول پکي منع دي.
- ✓ د لمر د راختو پر مهال ترڅو چي رنا یي ښه خپره شي
- ✓ د غرمي پر مهال چي لمر ولاړ وي ترڅو چي مایل شي
- ✓ د لمر د لویدو پر مهال

پدغه وختونو کي د تلاوت او د شکي سجده هم منع ده خو که جنازه راشي وروسته کول یي پکار نده

2- هغه وختونه چي هر ډول لمونځ پکي مکروه دي.
- ✓ کله چي د ډکو او تشو متیازو او د ګیدي د بادو د وتو اړتیا وي
- ✓ کله چي طعام مخي ته تیار ایښي وي

3- هغه وختونه چي یواځي نفل لمونځ کول په کي مکروه وي.
- ✓ د سهار له راختلو څخه تر لمر ختو پوري
- ✓ د مازیګر د لمانځه له اداء کولو وروسته د لمر تر لویدو پوري
- ✓ کله چي د لمانځه د پاره اقامت ویل کیږي
- ✓ د اخترونو د لمانځه څخه مخکی

**د سهوي سجده:** په کار کي خطاء کیدو ته سهوه ویل کیږي په لمانځه کي سهوه دا معنا لري چي له یوه چا څخه په لمانځه کي کموالي او زیاتوالي وشي ددغي کمي او زیاتي د جبران د پاره په اخره قاعده کي له سلام ګرځولو وروسته دوه سجده کول عبارت د سهوي له سجدي څخه ده.

## سهوي د سجدي طریقه:

- ✓ په اخره قاعده کي تر تشهد پوري التحیات لوستل
- ✓ ښي لوري ته سلام ګرځول
- ✓ په اطمنان سره دوه سجدي کول
- ✓ له سجدي کولو وروسته د التحیات د پاره کیناستل تر اخره درود او دعاء په شمول د التحیات سره لوستل
- ✓ په اخره کي دواړو لورو ته سلام ګرځول

## د لمانځه احکام کوم دي:

- ✓ د لمانځه سنتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د لمانځه مفسدات
- ✓ د لمانځه مکروه هات
- ✓ د لمانځه قضايي
- ✓ د جماعت لمونځ

## قضايي لمونځونه:

پخپل وخت د لمانځه ترسره کولو ته اداء او پاتي کيدو په صورت کي بل وخت د همدغه لمانځه راګرځولو ته قضاء ويل کيږي. د قضايي لمونځونو په هکله لاندي ځو مسائل خورا مهم او ضروري دي.

- ✓ د فرض لمانځه قضايي راګرځول فرض د واجبو واجب ده
- ✓ که يو څوک نفل شروع کړي بيا يې پريږي د هغي قضايي راوړل هم لازم دي
- ✓ د سنتو قضايي نشته يواځي فرض راګرځول ګيږي خو د سهار سنت د فرضو سره يو ځاي د همدي ورځي د لمر تر زواله راګرځول کيږي او که له زواله څخه وروسته ماسپښين د لمانځه پرمهال يې راګرځوي نو يواځي فرض به راګرځوي.
- ✓ که يو څوک د سهار لمانځه ته پداسي حالت کي خاضر شی چي د سنتو کولو وخت نه وي (جمع ولاړه وي)نو بيا به سنت پريږدي خو دا چي د دغو سنتو په اداء کولو رسول الله ص ټينګار کړي دي کول يې ضروري او په دوه طريقو کيږي

الف: د لمر ختو څخه وروسته راګرځول

ب: د لمر راختو څخه مخکي راګرځول

- ✓ که له يوي ډلي خلکو څخه لمونځ قضاء شي په جمعي سره د هغی قضائي راوړلي شي
- ✓ که له چا څخه لمونځ قضاء شي او صاحب ترتيب نه وي هر وخت چي ور ياد شي او مکروه وخت نه وي راګرځولي شي
- ✓ له چا نه چي زيات لمونځونه د غفلت او ناپوهي په سبب پاتي شی معاف کيږي نه قضايي پري لازمه ده که ممکنه وي په يوه وخت کي يې هم راګرځولي شي

## د جماعت د لمانځه فضايل:

- ✓ د جماعت لمونځ له انفرادي لمانځه نه اوه ويشت درجي زيات اجر او ثواب لري
- ✓ د جماعت د لمانځه د پاره په تلو سره په هر يو قدم يوه ګناه معاف کيږي او يوه درجه لوړيږي

## د جماعت د لمانځه ګټي:

- ✓ مسلمانان راټوليږي او د بل احوالو نه خبريږي او همدارنګه د يو بل په درد کي شريک کيږي د روغ رانځور پوښتنه پکي کيږي نور زياتي ګټي لری په جماعت سر لمانځه کي د ورور ګلوي پياوړتيا او ټنګښت سبب کيږي

## د امامت شرطونه او اداب:

د اسلام د لاربښوونو په رڼا کي امام په اسلامي ټولنه کي لاربنود رهبر او مشر دي خلک هغه پسي روان وي رسمي او درستي لاري په لور يې رهبري کوي.

## د امامت شرطونه:

- ✓ امام بايد تقوه دار او پرهيزګار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د ټولني زيات شمير خلک به پري راضي وي
- ✓ پر خپلو مقتديانو به مهربانه او زړه سوانده وي

## د دري تنو لمونځ نه قبليږي:

- ✓ هغه سړی چې د خلکو امامت کوي او هغوي پري ناخوښ وي
- ✓ د هغي ښځي چي ميره تري خفه وي
- ✓ هغه دوه تنه چي يو له بله مرور وي

## د امامت اداب:

- ✓ که امام ته غذر پيښ شي نوبل امام ته به خپل ځاي پريږدي
- ✓ د امام بايد پوره اطاعت وشي
- ✓ د اشتباه او خطا پر وخت هغه ته يادونه وشي
- ✓ د ستري گناه د ارتکاب په صورت کي بايد د هغه اطاعت ونه شي

## د جمعي لمونځ:

ابولبابه البدري (رض) روايت کوي چي رسول الله ص فرمايلي دي د جمعي ورځ د ټولو ورځو سرداره ده. د الله ج په نزد تر وړوکي او لوي اختر غوره ده دغه ورځ تر نورو ورځو پنځه ځانگړتياوي لري.

- ✓ الله ج په همدي ورځ ادم عليه السلام پيدا کړي دي
- ✓ په همدي ورځ يي وفات کړي دي
- ✓ په همدي ورځ يي ځمکي ته راليږلی دي
- ✓ په دغه ورځ کي داسي يو ساعت شته چي دعاء په کي خامخا قبليږي پدي شرط چي د حرامو غوښتنه يي نه وي کړي
- ✓ د قيامت ورځ به په همدي ورځ منځ ته راځي
- ✓ د الله ج مقربي ملايکي ، ځمکي اسمانونه غرونه بادونه او بحرونه د جمعي له ورځي متاثره دي او تاب يي نه شي راوړلاي

## دجمعي د لمانځه احکام : د اداء کولو حکم يي:

د قرانکريم او د نبوي احاديثو او د اسلامي امت د اجماع په رڼا کي د جمعي لمونځ فرض عين دي که څوک تري انکار وکړي کافر دي او که څوک يي د سستي او بي پروايي په سبب پريږدي فاسق گڼل کيږي

## انتهائي عاجزي او توزيع ته عبادت ويل کيږي:

په عربي ژبدود کي عبديت عبوديت او عبارت مترادف الفاظ دي معنا يي يوه ده امر منلو ، اطاعت ، خدمت عاجزي او ځان ذليلو ته ويل کيږي.

امام ابن قيم رح د عبادت اصطلاحي معنا داسي کوي ....عبادت له هغه ډول انتهائي زاري عاجزي امر منلو او ذلت څخه عبارت دي چي د الله تعالي او د هغه د رسول سره د محبت په اساس ترسره شي.

........................................................................................................

## د طهارت معنا پاکي او له چټلي څخه خان سابل دي :

نجاست معنا گندگي چټلي او ناپاکي ده چي د طهارت او پاکوالي ضد دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجاست په دوه ډوله دوي:

1) حقيقي نجاست : هغه محسوسه چټلي او ګندګي ده چي انسان ور څخه په طبعي ډول کرکه کوي خپل ځان جامه او د استعمال نور شيان ور څخه لري ساتي

الف : غليظه نجاست

- ✓ خوګ غوښه
- ✓ د انسان ډکي او تشې متيازي
- ✓ مني او مذي
- ✓ هغه وينه چي د حيوان د ذبحي پر مهال تويه شي په غوښه کي پاتي وينه پاکه ده
- ✓ کانګي
- ✓ د حيض او استحاض وينه
- ✓ د حرام ځاروي شيدي
- ✓ شراب او نور نشه لرونکی شيان
- ✓ دمار پوستکي

ب : حفيفه نجاست

- ✓ د آس تشي متيازي
- ✓ د هغو الوتکونکو متيازي چي خوراک يي حرام وی لکه کارغه، ټپس، باښه او نور....
- ✓ د حلالو ځارويو لکه غوا، ميښي، وزي ، ميږي تشي متيازي ......

نوټ : (د حقيقي نجاست د پاکوالي د پاره اسلامي شريعت دري شيان ښودلي دي اوبه، لمراو خاوره)

2) حکمي نجاست : د ناپاکي هغه حالت ته ويل کيږي چي چټلي يي په سترګو نه ښکاري خو شريعت نجس ګڼلي وي. لکه بي اودسي ، جنابت ، حيض او نفاس ....

حکمي نجاست په دوه ډوله دي.

الف: حدث اصغر (وړه بي اودسي)==> اودس کول د پاکوالي په خاطر

ب: حدث اکبر (غټه بي اودسي ) ==> غسل کول د پاکوالي په خاطر

اودس په کومو شيانو لازميږي ؟

هغه کارونه چي اودس پري ماتيږي هماغه کارونه اودس لازموي لکه د انسان له دوو لارو څخه دکوم شي وتل ، قي کول ، خوب کول او انور........

اودس کولو فضليت او غوره والي:-----> د اودسه په کولو سره واړه ګناهونه پريمنځل کيږي.

## د اودس کولو فرضونه په څلور ډوله دي:

- ✓ يو ځل د ټول مخ پريمنځل
- ✓ تر څنګلو پوري د دواړو لاسونو پريمنځل
- ✓ د سر د څلورمي برخي مسح کول
- ✓ تر خنګرکو پوري د پښو پريمنځل

## د اودس کول سنتونه ديارلس دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ نیت کول
- ✓ د بسم الله ویل
- ✓ تر مړوندونو پوري د دواړو لاسونو مینځل
- ✓ دري واري خوله مینځل
- ✓ مسواک وهل
- ✓ دري واري پوزي ته اوبه اچول
- ✓ د ګیری اخلالول
- ✓ د پښو او لاسونو د ګوتو اخلالول
- ✓ د ټول سر مسحه کول
- ✓ د سر په اوبو سره د دواړو غوږو مسح کول
- ✓ په ترتیب سره اودس کول
- ✓ لومړي ښي او بیا چپ لوري مینځل
- ✓ په یو غړي پسي سمدستي بل غړي پریمنځل

## لاندي چارو په تر سره کیدو سره اودس ماتیږي:

- ✓ د تشو او ډکو متیازو له لارو څخه د کوم شي وتل
- ✓ له بدن څخه پداسي شکل سره د ویني وتل چي له خپل ځاي څخه پاک ځاي ته حرکت وکړي
- ✓ په ډکه خوله کانګي کول
- ✓ په لیاړو کي په داسي شکل سره د ویني راتلل چي د ویني رنګ زیات وي
- ✓ بغیر له شهوت څخه د منیو وتل
- ✓ د ښځو له سینو څخه له شیدو پرته نور څه راوتل
- ✓ د ښځو څخه د استحاص وینه راتلل
- ✓ د مذیو او ودیو وتل
- ✓ په کومو شیانو سره چي غسل لازمیږي اودس پري حتماً ماتیږي
- ✓ په خوب کولو سره
- ✓ په بیهو شه کیدو سره
- ✓ د جنازي له لمانځه پرته په هر لمانځه کې په قهقه خندلو سره

---

**غسل :** په لغت کي د ټول بدن پریمنځلو ته ویل کیږي او د اسلامي شریعت په اصطلاح کي د شریعت د ښودل شوي طریقي سره سم د حکمي ناپاکي لري کولو او یا یواځې د ثواب حاصلوني په خاطر د ټول بدن مینځلو ته غسل ویل کیږي.

## د غسل فرضونه دري دي:

- ✓ د خولي پریمنځل په داسي طریقي سره چي ستونی هم ورسره لوند شي
- ✓ په پوزه کي اوبه اچول
- ✓ ټول بدن ته په داسي طریقي سره اوبه رسول چي د ویښته په اندازه ځاي هم پټکي وچ پاتي نه شي

## د غسل سنتونه:

- ✓ نیت کول
- ✓ لمړی اودس کول
- ✓ دواړه لاسونه ترمړوندو پوري مینځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ مسواک وهل
- ✓ په ټول بدن دري واري اوبه تیرول

## غسل په دري ډوله ویشل کیږي:

- ✓ فرض (د لوي بی اودسی جنابت ، حیض او نفاض څخه د پاکي په خاطر غسل کول
- ✓ سنت (د اجر او ثواب په نیت غسل کول سنت دی لکه د جمعی د لمانځه او د اخترونو د لمانځه د پاره غسل کول)
- ✓ مباح (له بدن څخه د خیرو پاکولو او یا په گرمي کي د بدن د یخولو پاره غسل کول مباح دي)

**تیمم:** په لغت کي قصد ارادي او عزم ته ویل کیږي او د اسلامي فقي په اصطلاح کي له حکمي نجاست څخه د پاکوالي په نیت پاکي خاوري ته قصد کول دی.

## د تیمم د روا والي صورتونه:

- ✓ چي د اوبو میندلو هیله ختمه شي یا د یو میل په اندازه لری و ی
- ✓ د اوبو په خوا کي د ښمن یا کوم ضرري حیوان وی
- ✓ د کوهی دسی یا بوکه نه وي
- ✓ که ښځه په کور کي وی له کوره په وتلو او اوبو راوړلو کي د هغی د عزت ابرو په خطر کي وي
- ✓ اوبه وي خو د څښلو یا د پخلي د پاره ایله بس کیږي
- ✓ اوبه وی خو د صحت د پاره یقیناً ضرر رسوي یا ورسره مرض زیاتیږي
- ✓ اوبه وی خو د ضرورت مند د پاره په گران قیمت ورکول کیږي یا ورسره د اخستلو وس او توان نه وی
- ✓ که څوک په ریل جهاز یا بل کوم شی کی سفر کوی او هغه روان وی نه ودریږي او په هغی کی اوبه هم نه منیدل کیږي یا اودس کول ممکن نه وی

## د تیمم فرضونه:

- ✓ د الله ج د رضا د پاره له حکمی نجاست څخه د پاکیدو نیت کول
- ✓ دواړه لاسونه په خاوره وهل او په ټول مخ یي راګرځول
- ✓ بیا لاسونه په خاوره وهل د څنګلو په شمول یي په دواړه لاسونه راګرځول

ټول هغه شیان چي د خاوري له جنسه دی تیمم پري کیږي لکه رانجه، چونه، خښته، مرمر او نور

او که د خاوري له جنسه نه وي او په اور کي سوزي او ایزه کیږي لکه لرګي اوسپنه سکاره فلزات کاغذ نیلون ایره او پلاستکي شیان او نور......

---

کله چي له دیني عباداتو یادونه کیږي هدف ترینه د دین هغه اصول بنسټونه او اساسات دی چي دین پري ولاړ وی ټاکلی وختونه ولري او د ځانګړو شرایطو په نظر کي نیولو سره ادا کیږی دغه عبادات عبارت دی له لمونځ، روژه، زکات او حج څخه دغه عبادات پر مخکینیو امتونو هم لازم ګرځول شوي ؤ

د لمونځ د پاره په اسلامي شریعت په اصطلاح کي د صلوة په لفظ سره ذکر شوي دي د صلوت لغوي معنا یو لوري ته مخ ګرځول ، مخکي تلل دعا کول او نردی کیدل دی په قرانکریم کي چي د صلوة لفظ ذکر شوي هدف تري د الله ج لوري ته متوجه کیدل د هغه لوری ته ورتلل له هغه څخه د دعا او رحمت غوښتنه او د هغه په وړاندي تواضع او عاجز ي کول دی د اسلامي شریعت په اصطلاح کي لمونځ هغه بدني عبادت دی چي په ځانګړو افعالو او اقوالو مشتمل په تکبیر تحریمه پیل او په سلام سره پاي ته رسیږي او دا هغه عبادت دی چي د شرایطو او ارکانو تعلیم یي قرانکریم ورکړي دي او تفصیلي طریقه یي رسول الله ص پي وینا او عمل سره ښودلي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په اسلام کې د لمانځه اهمیت:** د قران او سنت د مطالعي په نتیجه کي مونږ د لمانځه پر اهمیت ښه پوهیدلاي شو د دغو ایاتونو او احادیثو خلاصه په لاندي ډول ده ...

- ✓ له ایمان څخه وروسته د اسلام دویم اساسي رکن لمونځ دی
- ✓ الله تعالی سره د اړیکو د ټکبنت تر ټولو ستره وسیله لمونځ دي

## د لمانځه فضایل ګټي او حکمتونه:

د لمانځه فضایل:

- ✓ لمونځ د الله ج سره مناجات او خبري کول دی
- ✓ د لمانځه په ذریعه د انسان ګناهونه معاف کیږي
- ✓ په پابندي سره لمونځ ادا کول انسان د صالحانو او شهیدانو درجي ته رسوي

د لمانځه ګټي او حکمتونه: (د لمانځه فردي ګټي)

- ✓ لمونځ د انسان د نفس د پاکوالي او تزکیبي وسیله ده
- ✓ په لمانځه سره د انسان ظاهري وجود پاکیږي
- ✓ لمونځ د انسان د بدن د غړو د قوت وسیله ده
- ✓ لمونځ مؤمن سره د مشکلاتو په حل کې مرسته کوي
- ✓ د لمونځ د انسان اخلاقي قوت پیاوړي کوي
- ✓ لمونځ په انسان کې د بندګي احساس پیدا کوی

## د جمعی د لمونځ فرضیت شرطونه:

- ✓ عقل ( پر لیونی فرض نه دی)
- ✓ بلوغ ( پر کوچني فرض نه دی )
- ✓ نارینتوب ( پر ښځو فرض نه دی)
- ✓ مقیم والي ( پر مسافرو فرض نه دی)

## د جمعی د لمانځه د صحت شرطونه:

- ✓ جماعت ( د جمعی د لمانځه د پاره جمعه یو لازمي شرط دی)
- ✓ جامع مسجد
- ✓ وخت ( د جمعی لمونځ پخپل وخت کي فرض دی)
- ✓ خطبه ( د جمعی د لمانځه د پاره خطبه شرط ده)

## د خطبي سنتونه:

- ✓ خطبه باید له لمانځه څخه مخکی وی
- ✓ خطیب به خطبه په ولاړه لولی
- ✓ خطبي به دوه وي چي خطیب به دواړو ترمنځ په کیناستو سره جلاوالی راولی
- ✓ خطیب به خطبه به په لوړ ځاي ورکوي لکه ممبر یا بل اوچت ځای
- ✓ خطیب به خلکو ته مخامخ ودریږي

## د خطبي اداب:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خطبي په وخت كي له خطيب سره نږدی كيناستل او خطيب لور ته مخ كول مستحب دی كه د خطبي په وخت كي د رسول الله^ص^ نوم واخستل شي بايد په زړه كي پري درود وويل شی

## د خطبي حكمت:

د ادي چه مسلمانان د دين له احكامو خبر شي او په عمل كولو ته وهڅيږي او اتفاق او اتحاد په منځ كي پيدا شی

**د خطبي د اوريدو حكم:** د جمعي په ورځ د خطبي اوريدل او ورته چپ كيناستل واجب دی.

**د جمعي سنتونه:** د جمعي په لمانځه كي اته ركعته سنت دی څلور مخكي او څلور وروسته ......

## د جمعي په ورځ مستحب كارونه:

- ✓ غسل كول
- ✓ د لمانځه د پاره مسجد ته وختي تلل
- ✓ پاكي او ستره جامي اغوستل
- ✓ مسواك وهل
- ✓ د خوشبوي استعمالول

## په سفر كي د قصر د لمانځه حكم:

د سفر په حالت كي څلور ركعته لمونځ دوه ركعته اداء كيږي.

عمرعلی ابن عمر ابن معور اوجابر يي واجب ګڼي او دا د احنافو مذهب هم دی. امام مالك يي سنت مؤكد ګڼي حنبلي مذهب كي قصر جايز او له پوره لمانځه نه غوره دی د شوافعو هم دا مذهب دی .

---

**نفلي لمونځونه :** نفلي لمونځونه نه يواځي دا چي انسان الله تعالی ته نږدي كوي بلكی د هغه ولي او دوست يي جوړوي تقوا او پرهيزګاري پكي پيدا كوی. روح يي پاكوي اخلاق يي پاكوی اخلاق يي سپيڅلی كوی معنويت يي لوړي درجي يي اوچتوي بلكي د قيامت په ورځ د فرضي اعمالو ځاي نسي

## د نفلي لمونځونو ځني ډولونه:

1) تهجد (قيام الليل) : په نفلي لمونځونو كي لوړي مقام د تهجدو د لمانځه دی په دی سره انسان لوړو درجو ته رسيږي .....وخت : د تهجدو لمونځ د شپي په اوله او منځني برخه كي هم كيږي خو د شپي اخرنی برخه كي كول غوره دی ....

د تهجد د لمانځه ركعتونه د ابن عباس^(رض)^ څخه روايت دی رسول الله^ص^ د شپي په لمانځه د ډير ټينګار او تشويق په خاطر فرمايل چي د شپی لمونځ پر ځای لازم وګرځول كه څه هم يو ركعت وی خو پخپله رسول الله^ص^ د وترو په شمول يو لس ركعت هميشه كړي دی

د روژي په مياشت كي د ماسختن له لمانځه وروسته نفلي لمونځ كول د تراويحو د لمانځه په نامه ياديږي. تراويح د ترويحه جمعه ده استراحت ته ويل كيږي دا چي له څلورو ركعته لمونځ كولو وروسته پدي كي دمه كيږي نو څكه د تراويحو پ لمانځه سره ددي لمونځ نوم مشهور شوي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



2) تراويحو د لمانځه حکم : د ټولو علماؤ په اتفاق د تراويحو لمونځ د سړيو او ښځو د پاره مؤکد سنت دی.څوک يې چې نه اداء کوي د مؤکد سنتو پرېښودونکی او د راشده خلفاؤ مخالفت کوونکی دی
3) د څاښت لمونځ: هغه نفلي لمونځ دی چې د لمر له راختلو وروسته د لمر تر زواله اداء شی دغه لمونځ په احاديثو کی د اشراق ، ضحی او وابين په نامه ياد شوي دی
4) د تسبيح لمونځ : د تسبيح لمونځ د نورو لمونځونو څخه يو ځانګړی لمونځ دی چې رسول الله<sup>ص</sup> خپل تره حضرت عباس<sup>رض</sup> ته د هغی ځانګړی لارښونه کړي او د هغی له اجرونو او ثوابونو څخه يې خبر کړي دي نو مسلمان بنده بايد له دغه د لمانځه څخه غافل پاتي نشی او له ثوابو څخه بايد برخه من شی لس ډولوله ګناهونه پري بخښل کيږي ...
لومړنی، وروستنی، مخکنی، اوسني، هغه چې په قصد سره کړي وی واړه، غټ، پټ، ښکاره....................................
5) د حاجت لمونځ او دعا
6) استخاری لمونځ او دعا
7) دسفر نفلونه
8) د توبي لمونځ
9) د تحيته الوضوء لمونځ
10) د تحته المسجد لمونځ
11) د استسقاء لمونځ(باران)
12) د کسوف او خسوف لمونځ

---

**د زکات تعريف:** زکات په لغات کې نمو (ټوکيدلو) زياتوالي برکت او پاکوالی ته ويل کيږي او د اسلامی فقی په اصطلاح کی د شتمن مسلمان په مال کې د مستحقينو هغه برخه ده چې د شريعت د ټاکلی اندازي سره سم ورکول کيږي زکات د اسلام له پنځو بناؤ څخه يوه مهمه بناء ده چې په قران کريم کې د لمانځه سره يو ځای په ۸۲ ايتونو کې ذکر شوي دي.

**د زکات حکم:** د قرانی ايتونو او نبوي احاديثو او د اسلامی امت په اجماع سره په هر شتمن او نصاب څښتن مسلمان باندی فرض عين دی که څوک ور څخه انکار وکړی کافر دی او که څوک يې نه ورکوي فاسق او ګنهګار ګڼل کيږي مسلمان حاکم او مشر به يې په زوره تري اخلی

**د زکات د فرضيت تاريخ:** زکات په مکه کې پر مسلمانانو فرض شوي ؤ خو نصاب او اندازه يې نه وه معلومه بلکی دا کار يې د مسلمانانو دائي او نظر ته پرېښی ؤ د هجرت په دويم کال د زکات په هکله تفصيلی احکام را نازل شول نصاب معلوم شو او د هر جنس هغه اندازی هم وټاکل شوي چې زکات په کی ورکول کيږي

## په اسلام کې د زکات ارزښت:

- ✓ څرنګه چې په بدنی عباداتو کی د لمانځه ارزښت دی او اسلام پری زيات ټينګار کړي دی دغسی په مالی عباداتو کی د زکات ارزښت هم دی
- ✓ کله چې د رسول الله<sup>ص</sup> د وفات نه وروسته ځنی خلکو د ابوبکر صديق<sup>رض</sup> د خلافت په زمانه کی د زکات د ورکړی څخه انکار وکړه نو ابوبکر د زکات د مانعينو پر خلاف هماغسی د جهاد اعلان وکړه څکه څنګه چې د کفر په مقابل کړی وه
- ✓ لمونځ او زکات د مؤمنانو د ايمان نښه ده

**د زکات حقيقت :** په حقيقت کې زکات يواځي ارمندو خلکو ته د مال له ورکړی عبادت ندی بلکی دا هغه ستر عبادت دی چې د مؤمن بنده په زړه کی رڼا پيدا کوی له مال سره يې مينه کموی اخلاق يي سپيڅلی کوی او له زړه څخه يې هر ډول مادی او معنوی چټلی لری کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زکات په ورکړه هڅونه او تشویق:

- ✓ زکات په ورکړی سره اخلاق جوړیږي او مال زیاتیږي
- ✓ زکات ورکول مال نه کموی
- ✓ الله تعالی په زکات سره مال زیاتوی او په سود سره یې له میځه وړي
- ✓ څوک چې زکات ورکوی نو مال یې له هر ډول افت څخه په امن پاتی کیږي
- ✓ د الله تعالی په لاره کی یوه صدقه یو په اوه سوه بدله لری

**د زکات د نه ورکوونکو جزاء:** درد ناکی سزا زیری ورکړه دوی ته چی سره او سپین زر خزانه کوی او هغه د الله په لاره کی نه لګوی

کوم قوم چې زکات نه ورکوی له اسمانه به پري بارانونه بند شی

**د زکات او ټکس ترمنځ اساسی توپیر:** زکات د ټکس په څیر کوم مالی بار نه دی چی حکومتونه یی د ولسونو په غاړه اچوی بلکی دا یو عبادت او اسلام له اساسی ارکانو څخه یو رکن دی چی بنده پری الله ته نږدی کیږي نفس ئي پاک کیږي او ټولی ته ستر اخلاقی او روحی ګټی رسوی

## زکات د صحت په هغه چا باندی فرض دی چی لاندی شرطونه ولری:

- ✓ مسلمان وی
- ✓ بالغ وی کوچنی نه وی
- ✓ عاقل وی لیونی نه وی
- ✓ ازاد وی غلام نه وی
- ✓ دومره مال ولری چی نصاب ته ورسیږي
- ✓ پور وړی نه وی

**د زکات د صحت شرطونه:** زکات ورکونکی زکات هغه وخت درست دی چی لاندی شرطونه ولری

- ✓ مسلمان وی
- ✓ د زکات ورکولو نیت ولری
- ✓ د زکات مال د شریعت له خوا ټاکل شویو ځایونو کی ولګوی
- ✓ زکات اخستونکی شخص د مال مالک وګرځول شی
- ✓ عاقل وی لیونی نه وی
- ✓ بالغ وی کوچنی نه وی

**د زکات نصاب:** نصاب هغه اندازه مال دی چی اسلامی شریعت په کی زکات لازم کړی دی له ۵ اوسقو څخه په کمو خرماؤ کی زکات نه شته له پنځو اوقیو( ۲۰۰ درهمه ) څخه په کمو سپنو زرو کی زکات نشته له پنځو اوښانو څخه کمو اوښانو کی زکات نه شته

## اسلام په لاندی شیانو کی زکات لازم کړی دی :

- ✓ سره او سپین زر
- ✓ فصلونه او میوی
- ✓ د تجارت مالونه
- ✓ څاروی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ معدنونه او رکاز(خزانه)

---

## د مړی د ځنکدن پر وخت باید کوم کارونه ترسره شی :

- ✓ د هغه مخ باید قبلی ته مخامخ شی
- ✓ هغه ته باید د کلمی طیبی تلقین وشی
- ✓ د هغه ترڅنګ د سورت یا سین لوستل غوره دی
- ✓ کله چی د هغه ساه وخیژی بیا په چغو چغو ژړل ګرایون شکول بدرد ویل حرام دی
- ✓ هغه باید په ښه نوم یا شی او د هغه د بدو چارو یادونه ونه شی

## مړی ته د غسل ورکولو سنت طریقه :

**د جنازی د لمانځه احکام :** د جنازی لمونځ فرض کفائي د ی فرضیت يې له قران او سنتو څخه ثابت او منکر ورڅخه کافر دی

د جنازی د لمانځه فرضونه:

- ✓ څلور ځله الله اکبر ویل هر تکبیر د یو رکعت ځای نیسی
- ✓ قیام په جنازه کی بی له غذره کیناستل جواز نه لری

## د جنازی د لمانځه سنتونه:

- ✓ نیت کول ( په زړه کی تیرول چه د فلانی کس جنازه به کوی
- ✓ حمد او ثناء ویل
- ✓ درد شریف ویل
- ✓ دعا لوستل (الهم اعفرلی حینا و میتینا و شاهدنا وغابینا و صغیرینا و کبیریبا و ذکرینا و انثی نا الهم من احییته منا فه حییه علی الاسلام ومن توفیته منا فتوفه علی الایمان)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**